د نړۍ کارګرانو سره یو شی

# د مارکسیزم – لنینیزم

لومړی برخه

# فلســفه

بیا ټایپ خسرو ګلسرخي او لال پاچا پتنګ

د نړۍ کارګرانو سره یو شئ

# د مارکسیزم – لنینیزم

لومړی برخه

# فلسفه

## سریزه

زمونږ عصر د سوسیالیستی انقلابو دبریالیتوبونو،د استعماری سیستم د نړیدلو او د امپریالیسم د زوال عصر دی چی داکتوبر په ستر سوسیالیستی انقلاب پیل شو.

دلمړی سوسیالیستی هیواد تر زیږیدو پخوا امپریالیزم نړۍ کې د سیاسي پیښو لوري ټاکل خو نن هغه د درو لویو جنبشونو لخوا-غښتلی سوسیالیستی کمپ،بین المللی کارگرې طبقی او ملی آزادی بښونکي جنبشونو لخوا ترپرله پسی یرغلونو لاندی ورځ په ورځ کمزوري کیږي او سوسیالیستی کمپ د نړۍ د سیاسي پیښو ابتکار په لاس کښي اخستی دی.

څرگنده ده چی امپریالیزم او ارتجاع پخپله خوښه د تړی له سیاسی صحنی څخه نه وځی او په ټولو اجتماعی،اقتصادی،سیاسی او کلتوری ساحو کښی یی مبارزه سخته کړیده.بورژوازی ایدیالوگانو خپله ټوله پاملرنه د کارگرې طبقی دایدیالوژی(مارکسیستی-لنینستی ایدیالوژی)پر ضد راگرځولوی ده.هغوی هڅه کوی چی د سرمایداری سیستم د ستایلو او د هغه دجتړه مار خوی د پټولو دپاره هره ورځ نوي او نوي(تیوریگانی)راوباسی او داسی وښیی چی گواکې سرمایداري نظام به تل تربله وجود ولري.

د استعماري او استثماري تیوري گانو پرضد دمبارزې لپاره هر مترقي او وطنپال عنصر وظیفه لري چه د خپل ځان او تر وسه دنورو دپوهې دزیاتوالی په لار کښی گامونه واخلي.نو د دی وظیفی د رای پراساس می تصمیم ونیوی چی دخپلو کارگرانو،بزگرانو او ټولو هغو وطندوستو خلکو لپاره چه غواړي د کارگرې طبقې د ایدیالوژی سره نوي اشنایي پیدا کړي او خپله علمي سویه لوړه کاندي،د مارکسیستی-لنینیستی ایدیالوژی د درو برخو-مارکسیستی فلسفی،سیاسي اقتصاد او دعلمي سوسیالیزم تیوری لنډیز په ډیره ساده ژبه برابر او وړاندی کړم.

نو دادی د مارکسیستی-لنینیستی فلسفی لنډیز چی د افاناسیف د(اصول فلسفه مارکسیسم)د تودی نشرات۱۳۵۱ (فندامنتیل اف مارکسیسم-لنینیسم)د پروگراس نشرات۱۹۶۴،فنډامنتیل اف دیالکتیک ماتریالیزم دپروگراس نشرات۱۹۶۷ او (هیستاریکل ماتریالیزم) د ای چنسکوف د پروگراس نشرات۱۹۶۶ له کتابو څخه په استفادی سره می تالیف کړ وړاندی کوم او هیله ده چی د مادی فلسفې د زده کړی په لار کښی گټور وگرځي.

ځوان

## د ناپوهۍ او جهالت پر ضد د ماتریالیزم

## بریالیتوب

د علم تاریخ د ناپوهۍ او خرافاتو پر ضد د مترقي پوهانو له نه ستړي کیدونکو مبارزو څخه ډک دی. مترقي پوهانو د پوهې په دفاع کې ډیری قربانی ورکړیدي. سیاسي او ایډیولوژیکو مرتجعینو دغه ربښتیني عالمان له امتیازونو بې برخي کول، زندانو ته یې استول او حتی ژوندي یې په اور کې سوځول( اناګوارای) د پخوانی یونان ماتریالیسټ فیلسوف د اتن له ښاره د یوه بې دینه په نامه ایستل شوی ؤ .د( اپیکور) د مترقي پوهې پر ضد د کلیساګانو لخوا دوه زره کاله مبارزه وشوه تر څو هغه بې اعتباره کړي.
مرتجعینو کوښښ کاوه چې اپیکور د اخلاقو دوښمن او د فساد مبلغ معرفي کړی. د (ډموکریټس) ډېر ارزښت لرونکي اثار څوڅو ځله وسوځول شول او له منځه یووړل شول.
په ۱۶ پیړی کې ( جیوروانو برونو) ژوندی وسوځول شو،(ګالیله)ایټالوي فیلسوف مجبور کړای شو چې د خپلو نظریو څخه تیر شی او هغه رد کړی،(ولټر او ډیډرو)فرانسوی فیلسوفان زندان ته واستول شول.
د علم پر ضد د عصر د بورژوازی لخوا ارتجاعی مبارزی ته ادامه ورکول کیږي او که اوس مترقی پوهان نه شی سوځولای نو له امتیازونو یې بې برخی کوی. له پوهنتونونو یې باسی او اثارو ته یې د چاپ او خپرولو اجازه نه ورکول کیږي.
لاکین بندی کولو، وژلو، ترټلو او سوځولو ونه کولای شول چې د ماتریالیزم او مترقی پوهی د ودی مخه ونیسی. مارکسیزم-لنینیزم او د هغه ماتریالیسټي فلسفې چې د طبعیت، ټولنی او انساني تفکر عمومی قوانین تر څیړنی لاندي نیسی بشرته د ناپوهی له تیاری څخه نجات ورکړ. بشری ټولنو د مارکسیزم-لنینزم په مرسته د حقیقت د موندلو په لویه لاره کې ستر بریالیتوبونه لاس ته راوړل.

### ماتریالیزم او ایډیالیزم:

پوهیږو چې فلسفه ډېر پخوانی علم دی. د تاریخ په اوږدو کې د بېلو بېلو ډلو د طرفدارانو تر منځ کلکه مبارزه روانه وه. د نوموړو ډلو فلسفو مختلف نومونه درلودل چې په حقیقت کې یې د ماتریالیزم او ایډیالیزم په دوه متضادو قطبونو ویشلای شو.
د ((ماټر)) مانا ماده او ماتریالیزم د ((مادی اصالت)) هغی فلسفې ته وایی چې ماده پر مانا (روح)باندی لومړی بولی او کاینات د پیژندلو وړ ګڼی او روح یا شعور د مادی محصول او خاصیت بولی.
(ایډیا) معنی یا روح ته وایې او ایډیالیزم د (معنی اصالت) هغه فلسفه ده چې معنی یا روح پر مادی باندی لومړی ګڼی. موجوده کاینات د درک وړ نه ګڼی او ماده د معنی محصول ګڼی. په ټوله کې بیا ایډیالیزم په دوه برخو عینی او ذهنی ایډیالیزم وېشل کیږي. عینی ایډیالیستان د طبعیت د شتون څخه سترګی نشی

پټولای خو عقیده لری چې هر څه د یوی معنی لخوا چې په عینی توګه وجود لری پیدا شوي دي. دغه مانا ((مطلقه ایډیا)) یا ((جهانی اراده)) بولی.

ذهنی ایډیالیستان عقیده لری چې ماده یا طبعیت د انسان د ذهن محصول او مخلوق دی او د ذهن څخه د باندی شتوالی نلری.

د فلسفې د اساسی مسلی عمده اړخ همدغه د مانا او مادی تر منځ رابطه ده او بل اړخ یې د نړی د پېژندګلوی موضوع ده. هغه فیلسوفان چې ماده پر مانا وړاندی او د مادی خاصیت بولی او نړی د پېژندلو وړ ګڼی ماتریالیستان نومېږي خو هغه فیلسوفان چې مانا یا روح پر مادی وړاندی بولی او نړی د پېژندلو ود نه ګڼی ایډیالیستان بلل کېږي.

پوهېږو چې هر علم د خپلو مسلو د حل لپاره ځانته اسلوب لري. نو فلسفه هم باید د خپلو مسلو د حل لپاره ځانته اسلوب ولري.

اسلوب هغو لارو او وسیلو ته ویل کېږي چې د نظري مطالبو او عملی چارو لپاره پکار لوېږي. په فلسفه کې دوه ډوله اسلوبه پکار وړل کېږي چې یو یې میتافزیکي او بل یې ډیالکټیکي اسلوب دی. میتافزیا یا میتافزیکي اسلوب شیونه او پدیدې د یو او بل نه بیلی ګڼی، د بدلون وړ یې نه بولی او د شیونو او پدیدو په دننه کې د اضدادو د شته والی څخه انکار کوی. لاکېن ډیالکټیا یا ډیالکټیکی اسلوب بیا شیونه او پدیدی د یوه او بل سره تړلي او د تغیر وړ بولی چې همدغه بدلون هم د شیونو او پدیدو په دننه کې د اضدادو د مبارزی نتیجه ګڼی.

مارکسیستی فلسفه د خپلو مسلو د حل لپاره ډیالکټیکی اسلوب چې علمي دي پکار اچوي.

## د ای‌ډی‌ال‌ی‌زم ډول‌ون‌ه ک‌وم دي؟

حاکمه طبقو او د هغوی ایډیالوګانو د تاریخ په جریان کې د زیارایستونکو د فلسفې یانی د ماتریالیزم پر ضد ډېره سخته مبارزه کړیده. ایډیالیستي فیلسوفانو ډول ډول ایډیالیستي فلسفي مکتبونه منځ ته راوړیدي چې ټول یې د عینی او ذهنی ایډیالیزم پر دوه ډولونو ویشل کیږي. عینی او ذهنی اډیالیزم هم بیل بیل مکتبونه لري چې دلته به یې په لنډ ډول ځیني مهم ډولونه وړاندي کړو .

د عینی ایډیالیزم پلویان دعوه لري چې د ټولو شینو بنسټ باید په مانوي او غیر مادي عناصرو کې وپلټل شي. ستر عیني ایډیالیسټ فیلسوفان افلاطون او هیګل عقیده لري چې ټول شیونه د هغی مانا څخه راپیدا شوي دي چې په عینی توګه شته والی لري او د نړی او انسان تر پیدایښت پخوا یې وجود درلود.

ذهني ایډیالیستان بیا وایې چې مادي شیونه زموږ د احساس او تفکر مجموعه ده. دوی دعوه لري چې موږ له مادي شیونو یوازي رنګ، بوی، خوند او نور حس کولای او پېژندلای شو نو شیونه زموږ د فکر محصول دي او زموږ تر ذهن د باندی په مستقل ډول وجود نلري چې د هغو له جملی نه د ۱۸ پېړی

فیلسوف برکلی یې ښه نمونه کېدای شي. د دې فلسفي منطقي پایله دا ده چې ټوله نړۍ زموږ د مور او پلار په شمول وجود نلري بلکه زموږ د ذهن محصول دی. ذهني ایډیالیزم په دې ډول دې عقیدې ته رسېږي چې یوازی (( زه چې فکر کوم موجود یم ))

عیني او ذهني ایډیالیزم د تاریخ په ټول جریان کې د ساینس او علم لخوا رد شوي دي. پوهېږو چې تفکر او شعور د انسان د دماغ محصول دی او د انسان ماغره هم ماده ده. د انسان ماغزه د مادي تکامل د میلیونونو کلونو محصول دی. نو ماده پخوا تر هغه چې انسان او د هغه ماغزه پیدا شي په عیني توګه یې شتون درلود.

## پوزیټیویزم:

بورژوازي ایډیالوګانو د دې لپاره چې خپل ایډیالیستي ماهیت پټ کړي د ۱۹ پیړۍ په لومړۍ نیمایې کې یې هڅه وکړه چې په فلسفه کې یو تش په نامه دریمه لاره منځ ته راوړي . پوزیټویستان دعوه لري چې ماتریالیزم او ایډیالیزم دواړه بې بنسټه دي. ځکه هغوی په داسي مسلو ځانونه مشغولوي چې په تجربه نه دي ثابت شوي او علمي حل نلري – مثلاً د فلسفې په اساسي مسله کې ماتریالیزم او ایډیالیزم پر دې بحث کوي چې ماده لومړۍ ده او که شعور په داسي حال کې چې علم باید خپله ټوله پاملرنه و داسي شیونو ته راوګرزوي چې د مشاهدی وړ وي او په تجربه ورسېږي نه دا چې د هغوی اساس او بنسټ وپلټي چې مادي دي یا مانوي.

پوزیټویستان د فلسفې و اساسي مسلی ته له جواب ورکولو څخه ډډه کوي او وایې چې ساینس و هغه ته جواب نسی ویلای. هغو دا ډول له مادي نړۍ ځان ګوښه کوي او د خپل شعور په چوکاټ کې یې محدودوي ځکه نو د هغوی فلسفه ذهني ایډیالیزم دی او په فلسفه کې دریمه لار نشته.

پوزیټیویزمدشلمې پیړۍ په سر کې د ماخیزم یا امپریوکریتیسیزم په څېر څرګند شو چې د نویو علمي کشفیاتو په مرسته یې د دریمی لاری په نامه د ماتریالیزم پر ضد مبارزه کوله. لینن پخپل مشهور اثر ((ماتریالیزم او امپریوکریتیسیزم)) کې ماخیزم په کلکه رد کړی او ثابته یې کړه یې چې نوي علمي کشفیات د ماتریالیزم صحیح والی نور هم په ښه توګه تائید کړ.

## نیو پوزیټیویزم یا ((منطقي پوزیټیویزم)):

برټ رانډ رسل او یتجنستین د دې فلسفي بنسټ ایښودنکې دي. هغوی خپله فلسفه ((تحلیلي فلسفه)) بولی. د دې فلسفي بنسټ دا دی چې وایې: د فلسفې اساسي مسله په فلسفه کې ځای نلري ځکه چې فلسفه د خارجي نړۍ قوانینو په باب مالومات نسي ورکولای. فلسفه باید د علم د ژبی منطقي تحلیل وکړي یاني د علمي مفهومونو او اصطلاحاتو د استعمال قواعد څرګند کړی. د یوی قضیې څخه د نورو قیاس وکړی او د علمي اصطلاحاتو او مفهومونو ماناګاني وڅیړي. البته د علم د ژبی منطقي تحلیل یو مهم

کار دی خو ټوله فلسفه و هغه ته راکښته کول د فلسفې د محوه کولو مانا لري. نیو پوزیټیویزم هم لکه ماخېزم د ذهني ایډیالیزم یو ډول دی ځکه دوی هم د ذهني ایډیالیستانو غوندی د شیانو د عیني موجودیت څخه انکار کوي او یوازی د شیانو رنګ، بوی او نور منی چې د حواسو لخوا پېژندل کېږي او بس.

## اګزیستنسیالیزم:

اګزیستنسیالیستان دعوه لري چې د دوی فلسفه په عمومي توګه د موجودیت فلسفه ده خو په حقیقت کې هغوی یوازي د یوه ځانګړي فرد د موجودیت سره اړه لري او کله ټول ذهني ایډیالیستان د طبعیت زمان او مکان له موجودیت څخه انکار کوي مثلاً مارتین هایدګر وائي(( نړی هغه وخت موجودیت لری چې انسان موجود وي))

اګزیستنسیالیستان ځکه عقیده لري چې د انسان لپاره تر ټولو عمده شی د ده خپل موجودیت دی. څرنګه چې د انسان موجودیت پای لری او انسان ټول وخت د مرګ څخه په وېره کې ژوند کوي د فلسفې عمده وظیفه دا ده چې په انسان کې دغه وېره یاني له مرګ څخه وېره راوپاروي؟ جاسیره وائي چې فلسفه د مرینی زده کړه ده. اګزیستنسیالیستان پوهیږي چې له مرګ څخه د وېری احساس هغه وخت په ښه توګه منځ ته راځی چې فرد له ټولنی څخه ګوښه شي، ځانګړی او نا امیده کړای شي. نو دوی ځکه خپل پلویان او نور تلقینوي چې انسان یوازي دی او ټولنه د فرد دوښمنه ده.

پوهېږو چې پانګواله (سرمایه داري) ټولنه کې فرد تر ډول ډول ظلمونو او شخصیت یې تر سخت فشار لاندي راوستل کېږي او همدارنګه دوی ځکه هغه اخلاقي قبول شوي معیارونه چې د ټولنی لخوا وضع شویدي نه مراعاتوي. د ایګزیستیالیستي لیکوالانو د داستانونو او ډرامونو اتلان (قهرمانان) ځکه د کمزوري عقیدی خاوندان او بداخلاقه او داسي کسان دي چې دبشر ټول فعالیتونه او مبارزي بې فایده او جهان د بېهودګی پادشاهي او ټول تاریخ بې مانا ګڼي.

## نیو تومیزم:

لنین وائي: (( بورژوازي د پرولتاریا د ودی او زیاتیدونکې غشتلتیا له وېري د هر ارتجاعي د مرګ په حال کې او په منځنیو پېړیو پوری د تړلو شیانو ملاتړ کوي)) . په رښتیا چې نن ورځ بورژوازي د عیسوي مذهب او کلیسا د واک د زیاتولو لپاره پخپل ټول قوت سره هڅه کوي د ((توماس اکوین)) فلسفه چې د منځنیو پېړیو د کاتولیکې فلسفې ستر مکتب دی د نیوتومیزم په نامه را ژوندی کوي. نیوتومیزم لکه عیسوي کلیسا کوښښ کوي ثابته کړی چې طبعیت د آسماني مفکوری عملي کیدل او تاریخ د آسماني پلانونو تحقق دی. دا فلسفه زیارایستونکې د استثمار، ظلم او پانګوالی سیستم د نابرابری پر ضد له مبارزې څخه راګرزوي او د استثمار او ظلم د له منځه وړلو لپاره یې د دعا لپاره کلیسا ته رابولی. دا فلسفه د سیاسي نظره د

سوسیالیزم ضد ده او پانګوالي سیستم بدبختی د ځینو هغو پانګوالو په ګناه پوری تړی چې وائی: مذهب یې سست کړیدی او د دین پیروي نکوي.

## ماټریالیزم د چا په ګټه دی؟

پوهېږو چې په طبقاتي ټولنه کې د استثمارونکو او استثمارېدنکو بیلی بیلی طبقی شته چې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره یو د بل سره کلکه مبارزه کوي.

مبارزه بیل شکلونه لري چې عبارت دي له:

١- ایډیالوژیکې مبارزه

٢- سیاسي مبارزه

٣- اقتصادي مبارزه

فلسفه د هري ایډیالوژیکې مبارزې مرکز تشکلیوي. استثماروونکي او استثمارېدونکې طبقې ځانته بیلی بیلی فلسفې لري او د هغو پواسطه سره د نورو طبقو پر ضد جنګېږي د غلامی په دوره کې د بادارانو فلسفه ایډیالیزم وه. هغوی دعوه لرله چې ټول طبعیت، ټولنه او انسانان د یوی ((جهاني ارادې )) لخوا را پیدا شویدي او خالق موږ باداران او نور مرئیان پیدا کړي دي. هر څوک چې د دې نظام پر ضد مبارزه کوي د خپل خالق امر نه منی نو جزا یې مرګ ده. د مرئیانو فلسفه ماټریالیزم وه چې د هغی په مرسته یې د بادارانو د ایډیالوژی پر ضد مبارزه کوله. همدا ډول د فیوډالیزم په تاریخي دوره کې ایډیالیزم او مذهب د فیوډالی طبقی تیوریکي وسله او ماټریالیزم د ځوانی بورژوازي ایډیالوژیکه وسله وه چې د کلیسا د لاربښوونکو پر ضد یې مبارزه کوله.

زموږ په زمانه کې هم ایډیالیزم د بورژوازي ، امپریالیزم ، ارتجاع او استثمار فلسفه ده او ماټریالیستي فلسفه د امپریالیستي ارتجاع پر ضد د کارګری طبقې او ټولو زیار ایستونکو تئوریکي وسله ده.

بورژوازي فیلسوفان د خپلی فلسفې د ارتجاعي ماهیت د پټولو لپاره ادعا کوي چې د دوی فلسفه او فیلسوفان د کومی خاصی طبقې پر خوا نه بلکه د ټولني د ټولو طبقو او په عامه توګه د بشر په ګټه دي. خو نوموړي فلسفه په عمل کې د خصوصي مالکیت څخه دفاع کوي او هغه تلپاتې او تل تر تله بولی. استثمار ، استعمار ، تیری او جګړه روا ګڼي او د دې عملونو د اړتیا لپاره دروغجن دلیلونه جوړوي.

لاکن د مارکسیزم-لنینیزم بنسټ ایښوونکو په ډاګه اعلان وکړ چې ماټریالیستي فلسفه د ټاکلو طبقو او د هغوی له عملي سیاست سره نه بیلیدونکې رابطه لري. هره فلسفه د یوی مشخصی زمانی او ټاکلي طبقې د غوښتنو او ګټو انعکاس دی. ماټریالیزم د کارګری طبقې تئوریکي وسله او بورژوازي سره مبارزي لپاره را پیدا شویده.

پخوا مو وویل چې د ماټریالیزم اساس ماده جوړوي نو اوبه ګورو چې ماده څه شئ ده.

## ماده څه شئ ده؟

زموږ پر شاوخوا ډېر شیان لکه لمر، ستوري، ځمکه، انسانان، حیوانات، نباتات، کوچنۍ ذرې او نور ټول وجود لري.د دې شیانو څخه ځیني لوی او د لیدو وړ دي خو ځیني یې دومره واړه دي د قوي مایکروسکوپ په وسیله هم نه لیدل کېږي. د دې ټولو شیانو تر مینځ یو ګډ خاصیت شته او هغه دا چې دوی د انسان د ماغزو او ذهن څخه د باندی خپلواک شته والی او یا عینیت لري یاني هغوی د انسان د ذهن او شعور پواسطه منځته نه دي راغلي بلکه د هغه د باندي جلا وجود لري. دا ټول شیونه ماده دي نو لینن له دې کبله ماده په په لاندي ډول تعریف کړي ده: چې (( ماده د عیني واقعیت د ټاکلو لپاره یوه فلسفي مقوله ده چې انسان د حواسو له لاري په هغه پوهېږي. هغه واقعیت چې زموږ د حواسو له خوا عکاسي کېږي، انعکاس پیدا کوي او په عین حال کې زموږ له حواسو څخه خپلواک شته والی لري)) یاني ماده یو فلسفي مفهوم دی او په هغه وخت عیني واقعیت باندي دلالت کوي چې د انسان د ذهن څخه د باندي په مستقل ډول وجود لري او په هغه کې منعکس کېږي. ماده له منځه نه ځي بلکه یوازي له یوه ډول څخه و بل ډول ته او له یوه حالت څخه و بل ته بدلون مومي.

پخوا داسي فکر کېده چې اتوم د مادي نړۍ بنسټیزه خښته ده او د ماتېدو(تجزیي) وړ نه ده. خو کله چې اتوم مات یا تجزیه شو نو ایډیالیستي فیلسوفانو دعوه وکړه چې ماده له منځه ولاړه او ماټریالیزم غلط ثابت شو. وروسته فزیک پوهانو څرګنده کړه چې اتوم بیلی بیلی اجزاوي لري. هسته یا پروتون مثبت برقي چارج لري او دهغه په شاوخوا الکترونونه چې منفي برقي چارج لري په ډېر سرعت سره راګرزوي. سربېره پر دې د اتوم په هسته کې نیوترون هم شته چې برقي چارج نلري. په دې ډول یو ځل بیا ثابته شوه چې ماده هېڅکله له منځه نه ځي او نه هم خلق کېږي. ماده پر دوه ډوله ده چې یو یې جسم او بل یې فزیکې میدان دی. جسم له مالیکولونو، مالیکولونه له اټومو او اټومونه بیا پخپله له درو مهمو وړو ذرو لکه الکترونو، پروتونو او نیوترونو څخه جوړ شوی دی.

جسم په پنځه حالته- جامد، مایع، غاز، پلازما او نیوتروني حالت پیدا کېږي.

فزیکي میدان د مادې بل ډول دی چې میدان بیا په درو ډولو الکترومقناطیسي میدان، د جاذبې میدان((ګریویټي)) او هستوي میدان وجود لري.

فزیکي میدان یو جسم له بله سره نښلوي او د یوه شي تاثیر و بل ته نقلوي او د میدان اجزاوي کوانتومونه دي چې کوانتومونه د سکون په حالت کې کتله نلري او په یوه ثانیه کې درې سوه زره کیلومیټره لار وهي. د رڼا ((نور)) کوانتومونه فوتونونه بولي. جسم او میدان یو پر بل اوښتلای شی مثلاً الکترون او پوزیټرون چې د جسم ذرې دي فوتونونه جوړوي او همدارنګه فوتونونه په الکترون او پوزیټرون اوښتلای شي.

په پای کې باید ووایو چې د مادې په اړه بشر پوهنه هره ورځ زاتیږي خو د مادې فلسفي مفهوم یاني د هغې عینیت د مادي تنوع او راز رازوالی او د مادې په باب د بشري پوهې لایتناهي والی نه بدلېږي.

### حرکت د مادې د موجودیت شکل دی:

حرکت او تکامل د مادې تل پاتی ((جاویداني))، تل تر تله او نه بدلېدونکې خاصیتونه دي. حرکت نه یوازې په فضاء کې د شیونو د ځای بدلون بله د طبعیت ټول تغیرات او عمل په غېږ کې نیسي. د دغو بدلونونو په منځ کې د مادې د تکامل عملیه د یوه حالته و بل حالت ته له ښکته څخه د لوړ او پرمختللي حالت ته د شیونو بدلون ډېر اهمیت لري.

ماده یوازې د حرکت په حال کې وجود لري. له وړې ذرې څخه تر لویو ستورو او له ځارویو څخه تر ټولنی پورې ټول په حرکت کې دي. مثلاً په اتوم کې الکترونونه د هستې پر شاوخوا حرکت کې دي او اتوم په مالیکولونو او مالیکولونه په مرکباتو کې حرکت کوي. ځمکه د لمر او ټول شمسی نظام د کهکشان پر مرکز کې د حرکت په حال کې دي.

د مادې د حرکت ډولونه او شکلونه ډېر دي. ډیالیکټیکي ماټریالیزم د علم د نوی بریالیتوبونو پر بنسټ د مادې د حرکت ډولونه تصنیف کړي او د هغوی له منځه یې اساسي شکلونه بېل کړي دي. د مادې د حرکت لومړی تصنیف د فریدریک انګلز لخوا شوی دی. انګلز د مادې حرکت پر میخانیکي، فزیکي، کیمیاوي، بیولوژیکي او ټولنیز حرکت ویشلي دي. د حرکت دغه بنسټیز وېش تر اوسه لا هم خپل اهمیت ساتلی دی. خو د بشر مالومات د حرکت د شکلونو په اړه نور هم ژور او هر اړخیزه شوي دي. د مادې د حرکت شکلونه په لاندي ډول دي.

۱- میخانیکي حرکت:په فضاء کې له یوه ځایه و بل ځا ی ته د مادې حرکت دی چې له وړو زرو څخه د لویو ستورو تر حرکتونو پورې ټول په غېږ کې نیسي. میخانیکې حرکت د مادې د حرکت په نورو ډولو کې هم شته خو دلته فرعي رول لري.

۲- فزیکې حرکت: په لویو جسمونو کې د وړو زرو حرکت د فزیکې حرکت په نوم یادېږي. مثلاً اتوم کې د هستی پر شاوخوا د الکترونونو حرکت په مقناطیسي هستوي او جاذبوي میدانو کې د کوانټمونو حرکت په حرارتي او برقي پدیدو کې د مالیکولونو ، اتومونو، او الکترونونو حرکت فزیکي حرکت دی.

۳- کمیاوي حرکت: دا حرکت د کیمیاوي تعاملونو په وخت کې د اتومونو څخّه د مالیکولو جوړېدل او یا اتومونو باندي د مالیکولونو تجزیه په غېږ کې نیسي.

۴- بیولوژیکي حرکت: د البومینوئیدي موادو ټول هغه جریانونه په غېږ کې نیسي چې د چاپېریال سره په تلپاتي توګه مواد مبادله کوي. یا په بل عبارت د ژوندیو موجوداتو مېټابولیزم چې د حجرو په رغونه او ویجاړونه باندي وېشل کېږي او د ټولو بیولوژیکي بدلونونو اساس جوړوي، بیولوژیکي حرکت دی.

۵- ټولنيز حركت: په ټولنه كې د مادي توليد په شتون لري چې تل د لومړني توليدي ډول څخه مترقي توليدي ډول پر خوا حركت كوي او ټولنه د ټيټ ټولنيز- اقتصادي فورماسيون څخه و لوړ ټولنيز- فرما سيون ته بدلون مومې، چې دغه بدلون د ټولنيز حركت په نامه يادېږي.

د مادې حركت نه له منځه ځي نه نوى پيدا كېږي بلكه مطلق دى. د مادې د حركت دغه شكلونه يو په بل اوړي او يو بل كې شامل دي خو هر يو يې خپل ځاني او ځانګړي قوانين لري.

## مكان او زمان:

مكان د مادې د شتون عمومي شكل دى. د مكان فلسفي مفهوم دا دى چې مادي جسمونه بعد (اوږدوالى،سور او لوړوالى) لري. ټاكلى ځاى نيسي او يو د بل په نسبت په بيلو بيلو ځايونو كې واقع دي. د مكان ډېر مهم خاصيت د هغه عينيت دى يانى د انسان د شعور څخه خپلواكه شته والى لري. مكان () پوهېږو چې رڼا (نور) په يوه ثانيه كې درې سوه زره كيلوميټره لار وهي نو په يوه كال كې او بيا په زرهاو ميليونو كلونو كې به څو كيلوميټره لار وهي. داسي ستوري شته او كشف شوي دي چې رڼا يې د څو زرو مليونو كالو را په ديخوا د ځمكي پر لور په حركت كې وه او اوس رارسېدلې ده، چې د دې څخه د طبعيت مادي او مكاني لايتناهي والى اټكلولاى شو.

زمان هم د مادې د موجوديت شكل دى . د زمان فلسفي مفهوم دا دى چې پديدې او شيان يو په بل پسې راځي يو څه وخت پايښت كوي او تكامل يې په بيلو مرحلو كې سر ته رسېږي. د زمان عمده خاصيت د هغه عينيت دى. زمان لكه ماده تلپاتي(جاويداني) دى. زمان يو بعد يا لورى لري او هغه له ماضي نه و آيندې ته، له تيرى زمانى څخه و راتلونكې زمانى ته دى. زمان تر شا نه ځي او د مرئيتوب مرحله نه راګرزي او بل ځل منځنى پيړى نشته. زمان او مكان د مادې عمومي خواص دي. له لينن چې وايي (( په نړۍ كې هيڅ شى بيله مادې چې په حركت كې ده نشته او خوځيدونكي ماده بې له مكان او زمان حركت نه شي كولاى.))

زمان او مكان ټينګه اړيكه سره لري. د زمان او مكان اړيكي د مادې د حركت په عادي سرعت كې دومره نه څرګندېږي خو لوړو سرعتونو كې ښه ښكاره كېږي.

## شعور د مادې خاصيت دى:

د شعور او مادې اړيكه د فلسفې اساسي مضمون تشكيلوي. لكه مخكې مو چې وويل: ماټرياليسټ فيلسوفان عقيده لري چې شعور د مادې څخه رازېږي او په مستقل ډول وجود نلري. خو ايډياليسټان بيا وائي چې شعور له مادې څخه مستقل او په دماغ پورى اړه نلري. د پوهې د پرمختګ په نتيجه كې ثابته شوه چې شعور د انسان د ماغزو د فعاليت محصول دى. شعور د مادي نړۍ انعكاس دى. شعور د دماغي كار بيل بيل فعاليتونه لكه احساس، ادراک، تصور، تفكر ، اراده او نور په غېږ كې نيسي.

شعور د مادې د تکامل وروستنۍ پړاو دی خو د دې لپاره چې ماده د تفکر مرحلې ته ورسېږي یوه اوږده لاره یې وهلې ده. لومړۍ د ساده موادو څخه پیچلي غیر عضوي مرکبات او د هغوی څخه عضوي مواد پیدا شول. وروسته د البومینی موادو په ترکیبي نتیجه کې ژوندي شیان منځ ته راغلل. ژوندیو شیونو خپل تکامل ته ادامه ورکړه او د خپلو اړتیاو د پوره کولو لپاره یې بیلو بیلو جهازونو لکه د هاضمی، تنفسي، عصبي او نورو جهازونو وده وکړه. مثلاً په ماهیانو کې دماغ کوچنی او دماغي نیم کرو ډېره لږه وده کړیده. په ذومعشتینو کې د ماغ نسبتاً غټ او لوی دماغ (دماغ اکبر) وده کړیده .د خزنده گانو د دماغو په دوه نیم کرو کې د قشر لومړنۍ نښې منځ ته راځی. په مرغانو کې نیمی کرې نوری هم لویې را پیدا شوي دي. په تي لرونکو کې قشر ښه وده کوي او دماغ د بېلو بېلو دندو د اجرا مرکزونه لري. د انسان دماغي قشر د بیلو جوړښتونو سره چې ټول د عصبي سیستم د مختلفو برخو سره ټینګې اړیکي لري، منځته راځي.

ماده د غیر ژوندیو موجوداتو څخه نیولې تر ژوندیو موجوداتو پوری د بهرنیو تاثیراتو په مقابل کې عکس العمل ښکاره کوي. دغه عکس العمل د مادې د تکامل سره په متناسبه توګه بشپړ شوی او د شعور مرحلې ته رسیدلی دي.

د خارجی تاثیراتو په مقابل کې د شیانو عکس العمل لاندینی ډولونه لری:

ساده انعکاس،د تحرک قابلیت،احساس،عکسه،غریزه او شعور.

۱- ساده انعکاس د ټولو مادي شیانو خاصیت دی یعنی ټول مادي شیان د خارجي تاثیراتو په مقابل کې د خپل جسم دننه د متناسب بدلون پواسطه وړ عکس العمل ښکاره کوی.مثلاً هنداره رڼا منعکسوی دیوال یا غر غږ منعکسوی او نور.دساده انعکاس لپاره هم

موثر او متاثر یعنی هغه شی چې تاثیر اچوی او هغه شی چې تاثیر پر کیږی لازم دی.د غیر حیه شیانو عکس العمل د محیط د بیلو عواملو تر مینځ توپیر نه کوی ښه اوبد،ګټور او زیانمن تاثیرات نشی سره بیلولای.مثلاً هر څو واره چه پر هنداره رڼا واچول شی هغومره ځله یی منعکسوی هر څو واره چی فنر کش کړو هغومره ځله ځان کشوی.

۲- د تحرک قابلیت: د تحرک قابلیت د ژوندیو شیانو د راپیدا کیدو سره د بیولوژیکی انعکاس ډیر ساده شکل دی چی ژوندي موجود د هغه پواسطه د ګټورو موادو خواته نژدی او د زیانمنو شیانو څخه لیری کیږی.ساده ژوندی شیان د تحرک د قابلیت عمل پخپل ټول بدن سره اجرا کوی،خو حتی په ساده ژوندیو شیانو کې هم دا ډول اجزاء شته چی د خارجی تاثیراتو په مقابل کې تر نور بدن زیات حساس دی.

د ژوندیو شیانو د تحرک د قابلیت توپیر د ساده انعکاس سره دا دی چی د تحرک قابلیت په بیلو مواردو کې و خارجی دنیا ته بیل بیل عکس العملونه ښکاره کوی.مثلاً امیب چی یو حجروی موجود دی د یوی

غذايي مادې پواسطه تحريک کيږی خو کله چی خپلی اړتياوی يی پوره کړی نو بيا د غذايي مادی په مقابل کې بی تفاوته پاتی کيږی او عکس العمل نه ښکاره کوی يعنی د منهاتو تر مينځ د انتخاب قدرت لری.

۳- احساس: کله چی په حيواناتو کې د طبيعت د بيلو منهاتو د درک لپاره مخصوص غړی منځ ته راغلل نو احساس چی د انعکاس يو نوې شکل دی او د تحرک تر قابليت متکامل دی را پيدا شو.احساس د خارجی بيلوبيلو منهاتو لکه رنګ،بوی،غږ،تودوخه او نورو په مقابل کې عکس العمل دی چې ژوندې شيان د هغه پواسطه د محيط سره ترېخوا په ښه توګه توافق کولای شی.

۴-عکسه: د خارجی منهاتو په مقابل کې د ژونديو شيانو عکس العمل دی مثلاً که د ويښ يا بيده انسان يا خيوان د بدن يو غړی د ستنی په واسطه وتنبل شی او ياد اور سره تماس پيدا کړی نوهغه خپل غړی سم دستی ليری کوی.دغه عمل په غيرارادی اوعکسوی توګه اجراء کيږی.

عکس پر دوه ډوله دی: شرطيه عکس او غير شرطيه عکس.

غير شرطيه عکس د ټولو ژونديو موجوداتو خاصيت دی.خو شرطيه عکس په عالی حيواناتو کې د غير شرطيه عکسو پر اساس منځ ته راځي.مثلاً د سپی د معدی د غدو ترشحات د غذايي موادو په جوړلو سره شروع کيږی څو که په پرله پسی توګه د غذا ورکولو څخه پخوا يو زنګ ووهل شی په پاي کې به يوه شرطيه عکسه منځ ته راشی او د زنګ په وهلو به د سپی خوله او معده به افراز پيل وکړی.

د دی شرطيه عکسی پيدايښت د سپی په ماغزو کې يو موقتی ارتباط دی.خو که دغه عکس العمل حياتی اهميت پيدا کړی نو دايمی کيږی او په غير شرطيه عکسه اوړی.مثلاً د ښکاری ليدنه په لمړی سر کې په حيواناتو کې کوم عکس العمل منځته نه راوړی خو کله چی ډزی او ښکار څو واره تکرار شی نو حيوانات وروسته تر هغه د ښکاری د ليدو سره په عکسوی توګه له هغه ځايه ليری کيږی.

۵-غريزه: غريزه هم د ژونديو موجوداتو عکس العمل دی او د هغو په تکامل کې ډير رول لری.غريزه د عکسو له ترکيب څخه منځ ته راځي.غريزه ډير ډولونه لری لکه د تندی غريزه د لوږی غريزه،جنسی غريزه او نور.

۶-شعور: تر دی ځايه پوری د حيوان او انسان روح مشترک ټکی سره لری د تحرک قابليت،احساس،عکسی او غريزی په ټولو حيواناتو کې د بيولوژيکی تکامل پر اساس منځ ته راځی.حيوانات د حواسو پواسطه د باندنی نړی مشخص شيان پيژنی مثلاً اوبه،ډوډې او نور.پاولوف دغه د اثارو يا علامو لمړی سيستم بللی دی. انسان د عقل او شعور پواسطه دغو شيانو ته تعميم ورکوی. د شيانو مجرد مفهومونه پيژنی او د هغوی لپاره کلمات ټاکی پر يوه انسان د يوه شی مستقيمه ليدنه او يا دهغه د کلمی اوريدل يو شان تاثير اچوی.په دواړو صورتو کې هغه شی پيژنی.کلمات چی د شيانو پيژندونکو اثارو يا علامو دوهم سيستم جوړوی،يعنی که اوبه ووينی(اثارو لمړی سيستم)او يا يی کلمه واوری(د اثارو دوهم سيستم)هغه ته د اوبو مفهوم ور په ياديږې.

کار د انسان د شعور د تکامل په لاره کې قاطع رول لوبولی دی.انسان د کار پواسطه نه یوازی باندینی طبیعت بدلوي بلکه د ابزارو د جوړولو او استعمالولو پواسطه یی شعور هم تکامل موندلی دی.

ژبی هم د کار او تولید په جریان کې چی د شعور د تکامل مهم عامل دی وتلی رول لوبولی دی او انسان د ژبی پواسطه د شیانو مفهومونه ساتی یو او بل ته یی نقلوی او راتلونکو نسلو ته یی پریږدی.

په پای کې ویلای شو چی د حیوان(روح) دبیولوژیکی تکامل او د انسان شعور د تاریخی او اجتماعی تکامل نتیجه ده.

## ماتریالیستی دیالکتیک:

ماتریالیستی دیالکتیک او فلسفی ماتریالیزم د مارکسیستی فلسفی دوه نه بیلیدونکی اړخونه تشکیلوی،ماتریالیستی دیالکتیک واقعیتونو باندی د پوهیدلو اسلوب او طریقی دی،دیالکتیک د طبیعت،بشری ټولنی او تفکر د حرکت او تکامل عمومی قوانین دی،دیالکتیک د طبیعت د شیانو او پدیدو د عمومی ارتباط علم دی.

دیالکتیکی قوانین مفهومونه او مقولی د انسان په شعور کې د طبیعت،ټولنی او تفکر د دیالکتیکی تکامل د قوانینو انعکاس دی.یعنی دیالکتیک هم د عمومی ارتباط او تکامل عینی قوانین او هم د طبیعت د عمومی ارتباط او تکامل د دغو عینی قوانینو علم په غیر کې نیسی.د مادي دیالکتیک عمومی قوانین په لاندی ډول دی:

- ماتریالیستی دیالکتیک نړۍ په دایمی حرکت او تکامل کې ويني.
- مادي جهان یوه واحده او سره تړلی مجموعه ده او د مادي نړۍ شیان او پدیدی په ځانګړی توګه نه بلکه د یوه او بل سره په نه بیلیدونکی ارتباط کې تکامل کوی.
- د حرکت او تکامل محرکه قوه د ضدینو وحدت او مبارزه ده.
- د تکامل څرنګوالی او میکانیزم دا ډول دی چی کیفی بدلونونه د کمی بدلونو د تراکم په نتیجه کې منځ ته راځی.

## ۱- مادي نړۍ تل تکامل کوی:

که مونږ د شمسی نظام پیدایښت او یا د بشری ټولنی د پرمختګ تاریخ مطالعه کړو وبه ګورو چی مادي جهان هیڅکله پریوه حال ندی پاته شوی او نه په یوه ورځ پیدا شویدی بلکه د زرهاوملیونو کلونو په جریان کې یی یوه اوږده او پیچلی لاره وهلی ده.مثلاً د شمسی نظام ماده ډیره پخوا د یوه ګرد او غبار په ډول د چورلیدو په حال کې وه چی د ذرو د ټکرونو او جذب له کبله یی لوی جسمونه لکه لمر،سیاری او نور جوړ کړل.د تووخی درجه ډیره لوړه شوه چی په نتیجه کې ټولی سیاری ویلی شوی.سیاری د وخت په تیریدو سره سړی شوی.د ځمکی پر شاوخوا اتموسفیر جوړ شو چی د امونیا،کاربن ډای اکساید، میتان او د

اوبو بخارونه پکې موجود وو منځ ته راغلل.د اتموسفیر د پیدایښت سره جوی اوضاع هم پیل شول.د اتموسفیری برق او دلمر د غښتلو وړانګو په مرسته پورتنی څلور غازونه سره ترکیب شول او امینواسیدونه او فارم الدیهاید یی جوړ کړ.نوموړی مرکبات د باران له څاڅکو سره د ځمکې مخ ته راغلل چې هلته یی د بحرونو په ولاړو اوبو کې پروتینونه او نور هغه عضوی مرکبونه جوړول چې د لمړنی ژوندی شی پیدایښت یی ممکن کړ.

ژوندیو شیانو د بیولوژیکی قوانینو سره سم د ساده څخه لوړو حیواناتو ته یو په بل پسی تکامل وموند څو د انسان شکله بیزوګانو څخه د کار په مرسته انسان منځ ته راغی.انسانانو لمړی په ګډه ژوند کاوه ځکه د تولید وسایل دومره لږ وو چې انسانان مجبور وو د ژوندی پاتی کیدلو لپاره له هغو څخه په اشتراکی توګه ګټه واخلی.وروسته د تولیدی وسایلو د بشپړیدو پر اساس بشری ټولنه پر مخ ولاړه او یو تولیدی طرز په بل او مترقی تولیدی طرز واوښت.

مثلاً تر لمړنی ګډ ژوند وروسته دمریتوب بیا دفیوډالیزم او وروسته سرمایه داری اجتماعی
اقتصادی سیستم ټینګ شو.بشری ټولنی د خپل تکامل په جریان کې د اکتوبر د ستر سوسیالیستی انقلاب له لاری تر ټولو مترقی او پرمختللی عادلانه نظام یعنی سوسیالیستی سیستم منځ ته راوړ.اوس په نړۍ کې ډیر سوسیالیستی هیوادونه په بریالیتوب سره د علم او تکنالوژی نوي او نوي کامیابی لاس ته ور وړي او په ځینو هیوادو مخصوصاً په شوروی اتحاد کې د کمونیزم مادې او تخنیکی بنسټ برابریږي.

د پورتني لنډ بیان څخه څرګندیږي چې مادې نړۍ تل حرکت او پرله پسی تکامل کوی او یوه اوږده تکاملی لار یی وهلې ده.

## ۲-د نړۍ ټول شیان او پدیدی اړیکی سره لری:

د نړۍ شیان او پدیدی په یوه دایمی ارتباط کې دی.هیڅ شی او پدیده د نورو څخه ګوښه نده،مثلاً د لمر تودوخه د بحرونو او رودونو د اوبو یوه وړه برخه په بخار بدلوی چې له هغه څخه وریځی جوړیږی کله چې هوا سړه شی نو دغه بخار مایع کیږی او د باران یا واوری په شکل پر ځمکه را اوری.پر ځمکه د اوبو دغه جریان د رودونو،ویالو،چینو او څاګانو سرچینه او د نباتاتو او حیواناتو د ژوند منبع ګرځي،انسان د دغو اوبو په مرسته د خپل کار پواسطه ځمکه کری او غلی دانی برابروی،انسان د طبیعت سره د عادی تولید له لاری اړیکی لری،د تولید په جریان کې د انسانانو تر منځ تولیدی مناسبات ټینګیږی د تولیدی مناسباتو پر بنسټ سیاسی،اجتماعی،کلتوری او نور روابط منځ ته راځی.پدی توګه د نړۍ ټول شیان او پدیدی ټینګ او نژدی اړیکی سره لری.د نړۍ په بیلو ساحو کې ډول ډول اړیکی شته چی د شیانو او پدیدو تر منځ تکراریدونکی ماهوی ضروری او عمومی اړیکی د طبیعی قوانینو په څیر ځانونه ښکاره کوی.به نړۍ کې

دیر قوانین موجود دي مثلاً فزیکی،کیمیاوی،بیولوژیکی،اجتماعی او نور قوانین.د قانون فلسفی مفهوم همدغه د شیانو او پدیدو تر منځ تکراریدونکی،ماهوی،ضروری او عمومی ارتباط دی.

### ۳-د ضدینو د یووالی او مبارزی قانون:

د ضدینو د یووالی او مبارزی قانون د ماتریالیستی دیالکتیک رونی او عمومی قانون دی.

دغه قانون د مادي نړۍ د ټولو پدیدو او عملیو د حرکت او تکامل سرچینه ده.

د نړۍ په ټولو پدیدو او شیانو کې دوه متضاد لوری شته مثلاً په اتوم کې الکترون منفی او هسته مثبت برقی چارج لری،په مقناطیس کې د شمال او جنوب مخالف قطبونه شته،ټول شیان د جذب او دفعی متضاد خاصیتونه لری همدا ډول ژوندیو شیانو کې د اسیمیلیشن( د محیط څخه د غذایی موادو جذب)او دیس اسیمیلیشن(د مضرو موادو دفع)موجودیت د ارثی خواصو او د محیطی عواملو تاثیر لاندی د بدلون او تطابق متضاد خواص(وراثت او توافق)د نوو حجراتو جوړښت او د زړو حجرو له منځه تلل او د نورو متضادو خواو د موجودیت مثالونه دي.

په ټولنه کې هم متضاد لوری شته مثلاً د مریيتوب په دوره کې د مریيانو او بادارانو په فیودالیزم کې د بزګرانو او فیودالانو په سرمایه داری کې د کارګرانو او سرمایه دارانو متضادی طبقې.

په یوه شی کې متضادی او مخالفی خواوی نه یوائې یو له بله سره دفع کوی بلکه د دوی شته والی د هغه شی د موجودیت لپاره ضروری دی مثلاً که مونږ وکولای شو په یوه اتوم کې الکترونونه او هسته سره بیل کړو نو اتوم له منځه ځی.یا که په سرمایه داری ټولنه کې د سرمایدارانو طبقه له منځه یوسو نور نو هغه ټولنه سرمایه داره ټولنه نه ده په شیانو کې دغه تضادونه مجادله او مبارزه سره کوی ځکه هر چیری چې تضاد وی هلته مبارزه وي د تضاد مبارزه د تکامل سرچینه ده،لنین وایی چی تکامل د اضدادو مبارزه ده.

دغه مبارزه مطلقه ده هماغه ډول چی تکامل او حرکت مطلق دی.

په اضدادو کې د تعادل حالت نسبی دی یعنی د تکامل په جریان کې داسی وخت راځی چی متضادی خواوی یوه پربلی غښتلی نه وی او د یوه تعادل په حال کې وی لاکن دغه تعادل ډیر موقتی دی.

دضدینو مبارزه د مادی نړۍ په بیلو بیلو شیانو کې توپیر سره لری مثلاً تکامل په غیر حیه طبیعت کې د میخانیکی،برقی او اتومی قواوو د جذب او دفعی د عمل او عکس العمل د (
مبارزی) په شکل صورت نیسی،په ژوندیو شیانو کې د اسیمیلیشن او دیس اسیمیلیشن د دوو متضادو جریانو مبارزه د تکامل سبب ګرځی،په ټولنه کې د تولیدی قواو او تولیدی مناسباتو تر منځ مبارزه د تکامل سرچینه ده،دغه مبارزه په طبقاتی مبارزه کې انعکاس مومی چی د اجتماعی انقلاب په بریالیتوب سره نوي ټولنه منځ ته راځی.

د تضاد ډولونه:

په نړۍ کې ډول ډول تضادونه شته او تر ټولو مهم یې په لاندې ډول دي:

داخلی او خارجی تضادونه: داخلی تضاد د یوه ټاکلی شی په دننه کې د متضادو خواوو متقابل تاثیر او مبارزه ده،خارجی تضاد د یوه ټاکلی شی او دهغه د شاوخوا محیط تر منځ متضاد مناسبات دي،دغه تضادونه په هر شی کې شته خو داخلی تضاد د حرکت او تکامل سرچینه او د هغه عمده او ټاکونکی علت دی ځکه چی د شیانو او پدیدو د حرکت علتونه پخپله د هغوی په دننه کې موجود دي مثلاً په شیانو کې د دافعه او جاذبه قواوو متقابل تاثیر په ژوندیو شیانو کې د اسیمیلیشن او دیس اسیمیلیشن متضادی پدیدی او په ټولنه کې د متضادو طبقو مبارزه د همدی شیانو او پدیدو د حرکت او تکامل علتونه دی چی له بیرون څخه پر هغوی ندی تحمیل شوی بلکه پخپله د دوی په دننه کې موجود دي،خارجی تضاد د شیانو او پدیدو پر تکامل باندی تاثیر لری کولای شی د هغوی تکامل ګړندی کړی او یا یې وځنډوی خو زیاتره ټاکونکی رول نلری مثلاً که څه هم د یوې ټولنی په تکامل کې خارجی تضادونه تاثیر لری خو د هغی د تکامل اصلی علت د داخلی متضادو طبقو مبارزه ده.

نه پخلاکیدونکی او پخلاکیدونکی تضادونه:

په طبقاتی ټولنه کې د دښمنو طبقو تر منځ تضاد نه پخلاکیدونکی(اشتی ناپذیر)دی مثلاً د مریيتوب،فیودالیزم او سرمایه داری په تاریخی دورو کې د اصلی طبقو یعنی بادار او مریی،فیودال او بزګر،سرمایه دار او کارګر اصلی ګټی په نه پخلاکیدونکی ډول سره په تضاد کې دي اوامکان نلری چی دغه تضاد دهمدی اجتماعی-اقتصادی دوری په دننه کې

حل شی مثلاً د سرمایه دار او کارګر تر منځ تضاد یوازی هغه وخت حلیږی چی د سوسیالیستی انقلاب له لاری سرمایه داری سیستم راوپرزول شی او سوسیالیسم ټینګ کړل شی.

پخلاکیدونکی(اشتی پذیر)تضادونه د هغو طبقو تر منځ وي چی اصلی ګټی یی سره یو وي خو په فرعی ګټو کې تضاد سره لری.مثلاً په سرمایه داری ټولنه کې د کارګر او بزګر تر منځ ګټی پخلاکیدونکی تضاد سره لری یا مثلاً د واړه سرمایه دار او لوی سرمایه دار،انحصاری بورژوازی او غیر انحصاری بورژوازی تضادونه پخلاکیدونکی دي.دسوسیالیستی ټولنی تضادونه او همدا ډول د کمونست ګوند دننه تضادونه پخلاکیدونکی دي او د انتقاد او پر خپل ځان د انتقاد او مشترک عمل له لاری حلیږی.

اصلی او فرعی تضادونه:

اصلی تضاد هغه دی چی په یوه شی یا پدیده کې د داخلی روابطو ډیری اساسی او ټاکونکی څیری بیانوی مثلاً په کیمیاوی تعاملونو کې د اتومونو د ترکیب او تجزیی تر منځ ،په ژوندیو شیانو کې د اسیمیلیشن او دیس اسیمیلیشن، په سرمایه داری ټولنه کې د خصوصی مالکیت او د تولید د اجتماعی

خصلت او په اوسنی نړۍ کې د جهانی سوسیالیستی سیستم او امپریالیزم تر منځ تضادونه اصلی تضادونه دي.

فرعی تضاد هغه دی چی د یوه شی یا پدیدی غیر عمده څیری منعکسوی مثلاً په معاصره بشری ټولنه کې د ملی ازادی بخښونکی جنبش او امپریالیزم ،انحصاری او غیر انحصاری بورژوازی تضادونه فرعی دي.

د تضادونو د پورتنیو گروپونو تر منځ ټاکلی حد وجود نلری یو له بل سره گډیږی او یو په بل بدلیږی.

### ۴-دکمی بدلونو څخه و کیفی بدلونو ته د اوښتلو قانون:

د دې قانون د پوهیدو لپاره د کمیت،کیفیت او حد د اصطلاحگانو زده کړه ضروری ده.

کیفیت:د یوه شی دټولو خواصو مجموعه ده کوم چی هغه شی له نوروڅخه بیلوی.خاصیت

د یوه شی یو اړخ او کیفیت یی ټولی خواوی څرگندوی مثلاً اوبه یوه مایع ده چی رنگ او بوی نلری دسانتی گرید په صفر درجه کې منجمدیږی او په(۱۰۰)درجو کې ایشی او په بخار بدلیږی اوبه څو ډوله مالگی پخپل ځان کې حلوی ټول دغه خواص د اوبو کیفیت بیانوی.د ژوندیو شیانو کیفیت محیط سره د موادو مبادله،او د فیودالیزم کیفیت فیودالی مالکیت،د خان لخوا د بزگر د کار د محصول غصبول او د سرمایه داری ټولنی کیفیت د سرمایه داری مالکیت،کالایی تولید او د مزدوری کار دی.

کمیت:دیوه شی اندازه،شمیر،حجم،د خواصو سختوالی(شدت)او د تکامل درجه ښیی یا په بل عبارت د یوه شی د گچ(پیمایی)کولو وړ اړخ د کمیت په نوم یادیږی.کمیت تل په عدد او رقم بیانیږی کمیت او کیفیت چی د یوه شی بیلی خواوی څرگندوی یوه واحده مجموعه جوړوي.

حد:د یوه شی د کیفیت او کمیت یووالی ته وایی.کله چی دغه یووالی له منځه ځی نو د شی کیفیت اوړی مثلاً د اوبو لپاره دغه حد د سانتی گرید د صفر او سلو درجو تر منځ واقع دی که حرارت تر صفر کښته شی اوبه منجمدی کیږی او که سلو درجو ته ورسیږی په بخار بدلیږی چی په دواړو صورتو کې د اوبو کیفیت اوړی ځکه یخ او بخار دواړه د اوبو خواص نلری مثلاً مالگه نه پکې ویلی کیږی.

### د تکامل میکانیزم:

په یوه شی کې د کمیت د یو ټاکلی مقدار د غونډیدو په نتیجه کې نوی کیفیت راپیداکیږی. له کمی بدلونونو څخه و کیفی بدلونو ته اوښتل د مادی نړۍ د تکامل عمومی قانون دی،کمی بدلون د یوه شی د حد په دننه کې کیفی بدلون منځ ته نشی راوړلای مثلاً اوبه د سانتی گرید په ۵۰ درجو حتی ۹۰ درجو کې نه ایشی خو کله چی حرارت سلو درجو ته ورسیږی نو په بل کیفیت د بخار په کیفیت بدلیږی د بیلو کیمیاوی عناصرو توپیر د هغوی د هستی د مثبت چارج په هغه اندازی پوری اړه لری چی د مندلیف په جدول کې ښوول شویدی.همدا ډول د اکسیجن مالیکول دوه اتومونه لری او که دری اتومونه شی نو اوزون چی یو بل کیفیت لری لاس ته راځی.یا مثلاً سرمایداری ټولنه هغه وخت په نوي کیفیت یعنی سوسیالیستی ټولنی

اوښتلای شی چی له یوی خوا په هغی کې تولیدی قواوی د تکامل ټاکلی درجی ته رسیدلی وی او د تولید اجتماعی خصلت په پوره اندازه زیات وی او له بله پلوه د کارګری طبقی ګوند وکولای شی چی زیارایستونکی د سیاسی قدرت نیولو ته راپورته کړی یعنی د سوسیالیستی انقلاب عینی او ذهنی شرایط اماده وي.

ټوپ-غورځنګ یا(جهش):

پوهیږو چی تکامل د کمی او کیفی بدلونو په دوه بیلو مرحلو کې صورت نیسی،کمی بدلون نسبتاً په تدریجی توګه وی خو کیفی بدلون چی د تکامل بله مرحله ده د ټوپ یا غورځنګ په شکل ډیر چټک او سریع وی.کمی بدلون په یوه شی کې د کیفی او ژور تغیر سبب نه ګرځی خو د ټوپ یا غورځنګ بدلون ډیر ژور ریښه ای او کیفی دی چی په نتیجه کې زوړ کیفیت په نوي کیفیت اوړي.

د ټوپ یا غورځنګ شکل د یوې پدیدی په ډول او هغو شرایطو پوری چی نوموړی پدیده پکې پرته وي اړه لري مثلاً د اتوم ځینی ذرې د یوې چټکې چاودنی له لارې په نورو ذرو بدلیږي مثلاً چی الکترونونه د پوزیترونو سره ټینګ ټکر وکړی نو په یوه انفجاری توګه فوتونونه منځ ته راځي.غورځنګ په ژوندیو شیانو کې په عمومی توګه تدریجی وی مثلاً نوی نبات یا حیوان په یو ځل نه بلکه د محیط تر تاثیر لاندې په اوږده موده کې یو یو نوی خاصیت ځانته اخلی او زاړه خاصیتونه یی چی د چاپیریال سره سمون نه خوری له منځه ځی.انسان د انسان شکله بیزوګانو څخه په تدریجی توګه منځته راغلی دی خو جهش یا غورځنګ که هر څومره ورو او سست هم وي خو بیا هم هر ډول چټک تدریجی او کمی بدلون ګرندی وي.غورځنګ د پدیدو په شرایطو پورې هم اړه لري مثلاً که د اتوم تجزیه د راډیواکتیویتی له لارې صورت ونیسی نو انفجاری نه وي بلکه په تدریجی توګه اتومی انرژی په حرارتی انرژی بدلیږی.اجتماعی انقلابونه هم کیدای شی چی چټک یا ورو وي مثلاً د اکتوبر سوسیالیستی انقلاب دطوفان په څیر په ډیر سرعت سره زوړسیاسی واک راوپرزاوه

او نوی سوسیالیستی نظام یی ټینګ کړ خو کلتوری انقلاب چی د غورځنګ بل شکل دی په تدریجی توګه سوسیالیستی کلتور ټینګ کړ.

۵-د نفی نفی قانون:

نفی څه شی دی!

د نړۍ په هره خوا کې پرمختګ او تکامل موجود دی په شیانو کې د داخلی تضادونو له کبله نوي کیفیتونه منځ ته راځي،هغه زړیږي او د همدی زاړه کیفیت پر اساس نوی کیفیت رازیږي.له زاړه څخه د نوی راپیدا کیدل د طبیعت عمومی قانون دی مثلاً شمسی نظام له هغه ګرد او غبار څخه چی د وریځی په شکل وو تکامل وکړ ځمکه منځته راغله او د هغې پر مخ اوبه راپیدا شوی، د ځمکې قشرونه یو پر بل

باندی تشکیل شول،لمړنی ژوندی شی پیدا شو او د تکامل په اوږده لاره کې د حیواناتو او نباتاتو بیلې بیلې ډلې منځ ته راغلی.انسان هم د دې تکامل په نتیجه کې راپیدا شو.دټولنې د تکامل تاریخ څرګندوی چی بشری ټولنه د لمړنی کمون،مریتوب،فیودالیزم،سرمایداری او سوسیالیسم له بیلو بیلو تاریخی مرحلو څخه تیره شویده.د تکامل په جریان کې نوی زوړ مغلوبوي او دهغه ځای نیسی چی دغه عملیه دیالکتیکی نفی بلل کیږی خو د میتافزیکی اسلوبو له مخی چی د تکامل جریان تحریفوی نفی په پوره توګه او مطلق ډول د زاړه له منځه وړلو څخه عبارت ده.دیالکتیکی نفی دا ډول خالی او پوچه نفی نده په هغې کې د یوې پدیدې یا یوه شی مثبت او ښه اړخونه نه یواځی ساتل کیږی بلکه تکامل مومی او لوړی مرحلی ته رسیږی مثلاً عالی ژوندیو شیانو چی ساده ژوندي شیان نفی کړیدی د ساده ژوندیو شیانو ډیر خاصیتونه یی ساتلی او تکامل یی ورکړی دی یا مثلاً کله چی یو نوی اجتماعی نظام زوړ نظام نفی کړی نو د زاړه نظام تولیدی قواوی،دعلم او تخنیک بریالیتوبونه او فرهنګ ساتی او لوړی درجی ته یی رسوی نو ځکه کارګره طبقه او د هغه مارکسیستی ګوند د خپلې ټولنې د پخوانیو بریالیتوبونو او کلتور ښه ساتونکي ده.

نفی نفی څه شی دی؟

زوړ کیفیت د نوی لخوا نفی کیږی څرنګه چی پدی نوي کې هم تضاد شته او د همدی نوی د نفی شرایط برابروی نو بیا هغه هم نفی کیږی یعنی لمړی نفی د دوهمی نفی لخوا نفی کیږی او هغه ته نفی نفی وایی.دغه دوهمه نفی هم د بلی پواسطه نفی کیږی او همدا ډول تر لایتناهی ادامه مومی نو ځکه د نفی نفی قانون د تکامل عمومی جهت څرګندوی.

څرنګه چی هره نفی د زاړه کیفیت زاړه او ناکاره خاصیتونه نفی کوی او د هغه ښه اړخونه ساتی او نوی بریالیتوبونه پرې ورزیاتوي نو تکامل تل مترقی او پرمختلونکی دی مثلاً سرمایداری چی د فیودالیزم نفی ده او سوسیالیزم چی د سرمایداری نفی ده یو تر بل مترقی سیستمونه دی.

د نفی نفی بل خاصیت دادی چی پر مستقیم خط نه وي بلکه یو پیچلی جریان دی چی په مارپیچی شکل صورت نیسی او ټیټی مرحلی تر یوی اندازی تکراریږی خو دغه تکرار په لوړه سطحه کې وي.

مثلاً که یوه دانه غنم وکرل شی نو په مساعدو شرایطو کې شنه کیږی او ډنډر(ساقه) رازیږی چی د دانی نفی ده او پر ډنډر باندی د غنمو وږی چی د ډنډر نفی یعنی د نفی نفی ده منځ ته راځی او د لمړنی دانی غنم څخه ۱۰-۲۰ دانو غنمو پوری پیدا کیږی که څه هم دغه نوی غنمو مبدا(لمړی دانی غنم)ته یو ترشا ګرځیدل ښکاری خو دا ترشا ګرځیدل په نوي ډول دي ځکه چی نوی محصول هم د کمیت او هم د ځینو خواصو له مخی د لمړنی دانی سره توپیر لری.په ټولنه کې همدا ډول ده چی لمړی کمون د مریتوب او هغه د فیودالیزم لخوا نفی کیږی،فیودالیزم د سرمایه داری او هغه بیا دسوسیالیزم پواسطه نفی کیږی،لمړی کمون کمونیزم ته ورته والی لری خو بیخی پر نوی اساس یعنی په کمونیزم کې د تولید د وسایلو اشتراک په

ډیره لوړه سطحه کې دی.د تکامل دپوره درک لپاره د ماتریالیستی ډیالکتیک پر اساسی قوانینو سربیره د مقولو څیړنه هم لازمه ده.اوس به دماتریالیستی ډیالکتیک اساسی مقولی مطالعه کړو.

## د ماتریالیستی ډیالکتیک مقولی:

مقولی هغه ډیر کُلی مفهومونه دی چی د نړئ د شیانو او پدیدو ډیر مهم خواص،رابطی او اړخونه منعکسوی چی انسانانو د خپل عملی فعالیت په جریان کې منځ ته راوړی دی.د مقولو منشا عینی واقعیت دی او انسان په عملی فعالیت کې دبی شمیرو شیانو او پدیدو سره په تماس کې راځی او دهغوی کُلی او ماهوی اړخونه راڅرگندوي مثلاً انسان د زرهاوو ملیونو علتونو سره مخامخ شویدی او په پای کې یی دعلت مقوله تدوین کړیده.د دې پر خلاف ایدیالیستان د مقولو عینیت نه منی او عقیده لری چی انسان پخوا تردې چی د نړئ په پیژندلو پیل وکړی د کتلی،انرژی،علت،معلول او نورې مقولی یی په شعور کې وې او د هغوی په مرسته د نړئ په پیچلو حوادثو کې لار پیدا کوی.

البته څرگنده ده چی دمقولو دا ډول درک له عینی واقعیتونو څخه لیری دی او د علم لخوا رد شویدی.

مقولی چی د انسانانو دعملی فعالیت نتیجه ده پخپل وار د انسان د پوهی سره مرسته کوی،هر علم ځانته مقولی لری مثلاً حرکت،انرژی،قوه او برق د فزیک دعلم او کمیت، کیفیت او تضاد فلسفی مقولی دي.

قوانین او مقولی ارتباط سره لري،دمقولو پواسطه بیل بیل قوانین توضیح کولای شو مثلاً دنفی نفی قانون دمقولی او په کیفی بدلونو باندی د کمی بدلونو داوښتلو قانون د کمیت او کیفیت دمقولو پواسطه توضیح کیږی.قوانین همدا ډول د مقولو په پیژندلو کې مرسته راسره کوی مثلاً د ضدینو د وحدت او مبارزې د قانون په مرسته د بیلو بیلو متضادو مقولو په مفهوم پوهیدلی شو.

ډیالکتیکی مقولی ډیری دي خو تر ټولو مهمی یی په لاندې ډول دي-خصوصی اوعمومی، مضمون او شکل،ماهیت او پدیده،علت او معلول،ضرورت او تصادف،او امکان او واقعیت.

## خصوص او عموم:

خصوص هغه شی یا پدیده ده چی د خپلو ټاکلو کیفی او کمی خصوصیتونو له مخی له ټولو نورو شیانو څخه بیلیږی مثلاً احمد یو جگ نرئ کارگر دی او په خاصه لهجه خبرې کوي.دلته جگ،نرئ او خاصې لهجې خواص د خصوص په نوم یادیږی چی احمد له نورو کسانو څخه جلا کوي.

عموم دشیانو اوپدیدو ترمنځ هغه مشترک خواص او ځیرې دي چی هغوی سره نژدې او یو کوي مثلاً په یوه فیوډالی ټولنه کې خانان د ځمکې اوبو او نورو په لرلو سره د بزگرو د کار محصول ترلاسه کوي دغه مشترک خواص خانان په یوه طبقه کې سره یو کوي همدا ډول بزگران دمشترکوگټو اونورو گډو خصوصیاتو دلرلو له کبله یوه اجتماعی طبقه جوړوي. خصوص او عموم ډیالکتیکی ارتباط سره لري.هر

خصوص د عموم خصوصیتونه لري مثلاً احمد چی د خپلې کارګرې طبقی په نسبت یو خصوص یا فرد دی د خپلې طبقی خواص لري او له بلی خوا هر عموم د ځینو خصوصو له مجموعی منځ ته راځی مثلاً کارګره طبقه چی نسبت خپلو افرادو ته عموم دی د خصوص له مجموعی یعنی احمد،محمود او نورو کارګرانو څخه جوړه ده.

په علمی او عملی فعالیت کې د خصوص او عموم دیالکتیک ډیر اهمیت لري که یوه یا بل ته ډیر اهمیت ورکړل شی د علمی اصولو څخه به انحراف وکړو مثلاً د سوسیالیستی انقلاب عمومی قوانین باید د بیلوبیلو هیوادو د ملی خاصو شرایطو په نظر کې نیولو سره په کار واچول شی.رویژیونستان خاص ملی شرایط مطلقوی او د سوسیالیستی انقلاب عام قوانین تر پښو لاندې کوي له بلی خو بیا مایویستان او ټول دګماتستان د بیلوبیلو هیوادو خاص شرایط په نظر کې نه نیسی او پر ټولو هیوادو د انقلاب د یوې واحدې نمونی تحمیلول غواړی.اوس چی د خصوص او عموم په ارتباط پوه شو نود فرد د لا ژورې پوهې لپاره به د هغه مضمون او شکل مطالعه کړو.

## مضمون او شکل:

مضمون د یوه شی ټول جوړونکی اجزا او عملیې یا داخلي جریانونه،رابطې او تضادونه په غیږ کې نیسی.شکل د یوه شی د مضمون د جوړونکو اجزاوو او عملیو ترتیب،جوړښت او –
داخلي اړیکی راښیی مثلاً په یوه اتوم کې وړې ذرې او د هغوی د حرکت عملیه د اتوم مضمون او په هغه کې د ذرو ترتیب او جوړښت د هغه شکل جوړوی،تولیدی قواوې د یوه مشخص تولیدي طرز مضمون او تولیدي مناسبات د هماغه تولیدي طرز شکل جوړوي.

مضمون او شکل یووالی او ټینګ ارتباط سره لري بې مضمونه شکل او بې شکله مضمون نشته خو مضمون د تکامل په جریان کې ټاکونکی رول لري ځکه چی د مضمون په دننه کې تضادونه شته چی د هغه د تکامل سبب ګرځي او په هغه پسې شکل هم بدلون مومی مثلاً انسان د اجتماعی تولید په جریان کې تل کوښښ کوي چی ډیر مادي نعمتونه تولید کړي، د کا افزار بشپړ او خپل مهارت پیاوړی کړی د تولیدی قواوو دغه پرمختګ ژر یا وروسته د تولیدی مناسباتو یعنی شکل بدلون منځ ته راوړي.

که څه هم شکل له مضمون څخه رازیږی خو دهغه په تکامل کې فعال رول لوبوي مثلاً سوسیالیستي تولیدی مناسبات چی د سوسیالیستي تولیدی طرز شکل جوړوي د تولیدي قواوو د تکامل سره مرسته کوي او دهغوی د انکشاف مخه پرانیزی باید پوه شو چی یو مضمون په بیلوبیلو شکلونو کې موندل کیږی مثلاً د پرولتاریا د دیکتاتوری مضمون د شوروی دولت په شکل او د خلقی دموکراسی په شکل وجود لري.

شکل او مضمون یو د بل سره تضاد لري ځکه چی مضمون د تکامل په جریان کې د داخلي تضادونو پر اساس اوړي خو شکل د هغه سره سم نه بدلیږی نو د نوي مضمون سره په تضاد کې واقع کیږی مثلاً کله

چی د سرمایه داری تولید په جریان کې تولیدی قواوي وده وکړی(نوی مضمون) نو د تولیدی مناسباتو(زاړه شکل)سره په تضاد کې راځی چی دغه تضاد د نوی مناسباتو(سوسیالیستی مناسباتو)د ټینګیدو په واسطه حليږي.

د مضمون او شکل تر پوهی وروسته به د یوه مشخص شی ماهوي او ظاهري اړخونه مطالعه کړو.

ماهیت او پدیده:

ماهیت د یوه شی عمده اساسی او ټاکونکی اړخ دی.ماهیت د شیانو او عملیو یا جریانونو داخلي او زیاتره پټ بنسټ جوړوي.پدیده د ماهیت د تظاهر شکل دی ماهیت خپل ځان د یوی یا څو پدیدو پواسطه ښيي.پدیده د ماهیت مستقیمه او خارجی څرګندونه ده مثلاً د ژوندیو شیانو ماهیت د موادو مبادله ده چی نورې ټولې پدیدی د تحرک قابلیت،وده، حرکت او نور له هغه څخه منشا اخلی.ماهیت په احتماعی پدیدو کې هم اصلی او ټاکونکی اړخ جوړوي مثلاً د سرمایداری ټولنی ماهیت خصوصی مالکیت دی او دغه ماهیت د تولید په انارشی،استثمار او نورو پدیدو کې څرګندیږي.دسوسیالیزم ماهیت ټولنیز مالکیت دی چه د استثمار نشتوالی،د خلکو د مادی او معنوی ژوند ښه والی،د پلان له مخی د تولید انکشاف او نورې پدیدې د هغه څخه سرچینه اخلي.

د ماهیت او پدیدی په هکله معلومات د طبیعی علومو او ټولنی پیژندنی لپاره ډیر اهمیت لري ځکه چی پدیده د ماهیت سره پوره مطابقت نه لري او حتی ماهیت بل ډول څرګندوي مثلاً که د لمر ختو او لویدو جریان وګورو دا ډول بریښي چی لمر د ځمکې پرشاوخوا راګرځی پداسې حال کې چی شپه او ورځ د ځمکې د وضعی حرکت څخه پیدا کیږی یا مثلاً په بورژوازي ټولنه کې ظاهراً دموکراسی،انتخابات او نور وجود لري خو د بورژوازي دولت ماهیت بورژوازي دیکتاتوري ده.

پورتنی څو مقولې د یوه شی له درک سره مرسته کوي لاکن د هغوی د پیدایښت علت نه څرګندوي.نو د شیانو د نور لا ژور درک لپاره د علت او معلول مقولې مطالعه کوو.

علت او معلول:

هره پیښه د بلې پیښې نتیجه ده.یوه پدیده بله رازیږي چی لمړۍ علت او دوهمه معلول بلل کیږي مثلاً اودر د اوبو د ایشیدو علت دی او د اوبو ایشیدل د اور د تودوخی معلول دی یا مثلاً د پرولتاریا دیکتاتوري د سوسیالیستی ټولنې د جوړیدو علتونه او موجبات برابروي.علت ترمعلول دمخه وي خو هره حادثه چی تربلې پخوا وي د لمړۍ علت نه وي مثلاً شپه تر ورځی دمخه راځي خو علت یی نده.

د علت او معلول په زده کړه کې باید لاندې ټکي په نظر کې وساتو:

١- علت باید د انګیزی یا بهانی سره یو ونه بولو مثلاً پر اسیایی هیوادو باندې د مغلو د حملو بهانه د خوارزم شاه لخوا دچنګیزخان د ایلچی د پزی او غوږو پریکول وو خو علت یی دا وو چی مغول کوچیان وو

او دخپلو ځارویو د څر لپاره یې پراخو ورشوګانو ته ضرورت درلود نو یې پر نورو هیوادو پراخ یرغلونه پیل کړل خو وروسته د لوی امپراطوری په فکر کې شول.

۲- علت باید د هغو شرایطو څخه چی عمل پکې کوی پیل شی مثلاً کار د یوه بوټ د جوړولو علت دی خو د کار وسایل لکه اومه مواد او د کار ابزار هغه شرایط دي چی د څرمنې څخه د بوټ دجوړولو شرایط برابروي.

۳- علت اومعلول یو د بل سره ټینګ ارتباط لري هیڅ علت بی معلوله او هیڅ معلول بی علته نه وي.کیدای شی چی یوه پیښه هم علت او هم معلول وي مثلاً باران د وریځی په نسبت معلول او پر ځمکه باندی د اوبو د جریان د راپیداکیدو په نسبت علت دی.

۴- د ډیټرمینیزم یا جبر د تیوری له مخی تکامل د علت او معلول پر اساس منځ ته راځی او د یوه ډول قانونیت یا قانونمندی تابع دی.

اندیټرمینیزم دعلت او معلول په باب ایډیالیستی درک او عقیده لري چی تکامل د علت او معلول پر اساس نه بلکه د شعور لخوا منځ ته راځی.علت او معلول د شیانو ترمنځ ډیر عمومی ارتباط دی خو پر دې سربیره نورې اړیکی هم شته چی په هغوی کې ضرورت او تصادف خورا اهمیت لري.

ضرورت او تصادف:

ضرورت هغه حارثه ده چی په ټاکلو شرایطو کې هرومرو پیښیږی.ضرورت د تکامل کونکی حادثی له ماهیت او داخلی روابطو څخه سرچینه اخلی او د همغی ټاکلی پدیدی لپاره دایمی وي مثلاً که د غنمو یوه دانه په مساعدو شرایطو کې وکرل شی هرومرو شنه کیږی او غنم کوي یا که یو شی پورته وغورځول شی خامخا رالویږی او همدارنګه کله چی داجتماعی انقلاب لپاره عینی او ذهنی شرایط وجود ولري او هغوی سم پکار واچول شی نو

انقلاب بریالی کیږی.یا دا چی په سرمایداری ټولنه کې حتماً کارګره طبقه منځ ته راځي.

تصادف هغه حادثه ده چی په ټاکلو شرایطو کې ښایی پیښه شی یا ښایی پیښه نه شی. د تصادف علت د یوې حادثی دننه نه بلکه له هغی څخه دباندی وي مثلاً که تصادفاً یو سیلاب راشی او هغه کرل شوی غنم یوسی نو یو تصادف دی چی د غنمو د کرنې او ماهیت څخه سرچینه نه اخلي.

ضرورت او تصادف ډیر نژدی ارتباط سره لري،ضرورت او تصادف د لاندینیو علتونو له کبله نشو سره بیلولای.لمړی دا چی هره حادثه هم ضروری او هم تصادفی ده مثلاً د سیلاب پیښه د غنمو د کښت په نسبت تصادف دی خو د جوي شرایطو په نسبت یو ضرورت دی،دوهم دا چی ضرورت او تصادف یو پر بل باندی بدلیږی کیدای شی چی یوه حادثه په یوه وخت کې تصادف او په بل وخت کې ضرورت وي مثلاً په فیودالی او سرمایداری ټولنو کې د وطنپال،مترقی او مبارزو خلکو موجودیت یو تصادف دی خو کله چی-

سوسیالیستی ټولنه جوړه شی نو داسی کسان به هرومرو او په ضروری توګه د ټولنی اکثریت جوړ کړي.

دریم دا چی تصادف د ضرورت د څرګندونی شکل او بشپړونکی دی د ډیرو تصادفی پیښو تر منځ خپله لار پیدا کوي مثلاً په سرمایداری ټولنه کې د کارګرې طبقی موجودیت ضروری دی خو وینو چی کارګره طبقه څرنګه په تصادفی توګه د بزګرانو،وړو مالکانو او نورو لخوا چی په کرهڼه،دوکانداری او کسب کې ماتی وخوری منځ ته راځي.

د ضرورت او تصادف پیژندنه د علم او اجتماعی فعالیت لپاره ډیره مهمه ده ځکه چی د بیلوبیلو قوانینو او عینی ضروریتونو له لاری کولای شو چی د ډیرو زیانمنو تصادفونو مخه ونیسو او طبیعی او اجتماعی ضروریتونه د بشر په ګټه پکار واچوو.

هر ضرورت په لمړی سر کې د امکان په څیر وي خو د شرایطو د مساعدت په صورت کې په واقعیت بدلیږی.اوس به وګورو چی د دې مقولو معنی او اهمیت څه دی؟

## امکان او واقعیت:

د واقعیت پراخه معنی طبیعت او د نړی تاریخ،انسان او د هغه پوهه او مادي او معنوي کلتور په غیږ کې نیسی.په محدوده معنی امکان هغه دی چی تحقق یی موندلی وی مثلاً ممکنه ده چی هرزونی(هسته)په یوه ژوندی شی واوړی خو کله چی ژوندی شی منځ ته راشی نو هغه واقعیت دی یا مثلاً کله چی په یوه ټولنه کې د فیودالیزم او امپریالیزم پر ضد ملی دموکراتیک انقلاب بریالی شی نو دغه بریالیتوب یو واقعیت دی.هر نوی په یوه ځل منځ ته نه راځی بلکه لمړی د هغه مقدمات راپیدا کیږی امکان لري چی دغه مقدمات په ټاکلی شی واوړی یا وانه وړي،یا په بل عبارت امکان په یوه شی کې د نوی د رازیږیدو مقدمو ته وایی.امکان له عینی قانونمندیو څخه سرچینه اخلی،څرنګه چی هره پدیده متضاد قطبونه لري نو امکان هم بیل لوري لري.مترقی او ارتجاعی امکانات باید سره بیل شی مثلاً امکان لري چی سوسیالیستی انقلاب په موقتی توګه د ناکامی سره مخامخ شی خو د ټولنی د تکامل د قوانینو سره سم دغه مترقی امکان ډیر دی چی هغه انقلاب ژر یا وروسته بریالی شی.

امکان لکه هر بل شی حرکت او تکامل کوي.ځینی امکانات پراختیا مومی او ځینی محدودیږی مثلاً کله چی امریکایی امپریالیزم شمالی ویتنام بمباری کاوه او په جنوبی ویتنام کې پنځه لکه خارجی عسکر د خلکو پر ضد جنګیدل نو دا امکان وو چی په شمالی ویتنام کې سرمایداری سیستم ژوندی شی او د سوسیالیزم جوړښت وځنډیږی خو کله چی د نړی امپریالیزم په جنوبی ویتنام کې ماتی وخوړله په ویتنام کې د سرمایداری نظام د بیا راګرځیدو امکان له منځه ولاړ.

امکان یا انتزاعی یا واقعی وي،واقعی امکان هغه دی چی په ټاکلو تاریخی شرایطو کې تحقق موندلای شی مثلاً اوس ټوله نړۍ کې د امپریالیزم پرضد د ازادی بخښونکي ملی جنبشونو د بریالیتوب امکان واقعی

امکان دی.انتزاعی امکان هغه دی چی په ټاکلو تاریخی شرایطو کې تحقق ونشی موندلای مثلاً په فیودالی ټولنه کې د سوسیالیستی انقلاب بریالیتوب یو انتزاعی امکان دی خو ناممکن نه دی.ناممکن کار هغه دی چی تر هیڅ ډول

شرایطو لاندی تحقق ونشی موندلای مثلاً د پرولتاریا او بورژوازی د ګټو اشتی(پخلاکیدل) ناممکن دي.

د پوهې تیوري پراتیک(عمل)د معرفت(پوهې)اساس او هدف دی:

د پراتیک او معرفت په باب د لاندینیو ټکو ځیرنه اهمیت لري

معرفت څه شی دی؟ پراتیک څه شی دی؟ د دوی تر منځ څه اړیکې شته؟

۱-معرفت د انسان په ماغزو کې د عینی جهان او د هغه د قوانینو فعال انعکاس دی. زمونږ د شاوخوا عینی نړۍ د معرفت سرچینه ده دغه مسله د معرفت د مارکسیستی تیوری اساس جوړوي.ایدیالیستان عینی واقعیت د معرفت سرچینه نه ګڼي هغوی وایی چی د معرفت منشا یا احساس او یا شعور دی او عرفانی شعور(جهانی روح)هم د انسان د باندې وجود لري.روحانیون هم وایی چی(انسان طبیعت نشی پیژندلای بلکه یوازی د خلقت نتیجی تشریح کولای شي).

د معرفت جریان د ماتریالیستی دیالکتیک له مخې د ناپوهۍ څخه و پوهنې ته او د نیمګړی پوهې څخه پوره پوهې ته د افکارو حرکت دی.

۲-پراتیک د کار او مادي تولید پر بنسټ د طبیعت او ټولنی د بدلون لپاره د انسانانو فعالیت دی طبقاتی او سیاسی مبارزه،ملی ازادی بخښونکی جنبش،علمی تجربی او نور د پراتیک اجزاوي دي.پراتیک اجتماعی خصلت لري او د پراخو اولسونو فعالیت دی د پراتیک په نتیجه کې نه یوازی طبیعت تغیر مومی بلکه نوی شیان منځ ته راځي.

۳-د پراتیک او معرفت د اړیکو د پوهیدو لپاره لاندې ټکي مهم دي:

(۱)پراتیک د معرفت اساس دی(۲)پراتیک د پوهې د جریان سره مرسته کوي(۳)پراتیک دمعرفت هدف دی(۴)تیوری او پراتیک یووالی سره لري.

۱) پراتیک د معرفت اساس دی.انسان د خپل موجودیت له لمړی سره څخه کار او تولید ته مجبور وو د بیلوبیلو علومو بنسټ د طبیعت سره د انسان د مبارزې په جریان کې کیښودل شو مثلاً د ځمکې د اندازه کولو او تولید د شمیرلو په کار کې د ریاضی د علم د -

کښتی چلولو په جریان کې د نجوم د علم او د کورونو،پلونو او ویالو جوړولو په پراتیک کې د میخانیک د علم بنسټ کیښودل شو.

مارکسیستی-لنینیستی تیوری هم د پرولتاریا د عملی مبارزی پر اساس منځ ته راغلی ده.

۲) پراتیک د پوهې د جریان سره مرسته کوي او دپوهې ژورتیا او هراړخیزه کیدو لپاره د څیړنی وسایل -

برابروي مثلاً مایکروسکوپ د بیالوژی د علم د پراختیا عمده عامل دی.

۳) پراتیک د پوهې هدف دی.انسان د دې لپاره خپل ځان د بیلو شیانو په ماهیت پوهوي او قوانین یی کشفوي چی د هغوی څخه د بشر په ګټه کار واخلي.

۴) پوهه او پراتیک وحدت سره لري.بې علمه عمل د ړانده غوندې عمل دی او بې عمله علم بې موضوع پوهه ده.علم د عمل لارښوونه کوي او عمل د علم د پراختیا لپاره وسایل برابروي مثلاً مارکسیزم-لنینیزم چی د پرولتاریا د انقلابی مبارزې نتیجه او د واقعیت صحیح انعکاس دی د سوسیالیستی انقلاب او د سوسیالیزم او کمونیزم د جوړولو لارښوونکی دی.

## د پوهې عملیه:

پوهه د انسان په شعور کې د عینی نړۍ انعکاس دی په یو ځل منځ ته نه راځی بلکه د بیلو مرحلو څخه تیریږي.لنین وایی:په حقیقت باندې د پوهیدو په عینی واقعیت باندې د پوهې دیالکتیکی لار له مستقیمی لیدنې څخه و انتزاعی تفکر او د انتزاعی تفکر څخه د پراتیک په لوری ده.

پوهې دوه مرحلی لري-حسی پوهه او منطقی پوهه.

لمړی)- حسی پوهه:احساس،ادراک او تصور په حسی پوهه کې شامل دي.

حس: لنین وایی(احساس د عینی نړۍ ذهنی تصویر دی)انسان په یوه شی د پوهیدو لپاره لمړی د خپول حواسو څخه استفاده کوی یعنی هغه د لامسې،باصرې،ذایقې،سامعې او شامې پواسطه حسوي.هر حس درې برخی لري-لمړی دحس عضو-دوهم اعصاب چی له حسی عضوی څخه تر ماغزو رسیږي او دریم د ماغزو هغه برخه ده چی هلته تحریک په –

مناسبو احساساتو اوړي مثلاً کله چی یو شی ګورو د هغه شی څخه د نور وړانګې د سترګې له عدسیی څخه تیریږی او پر شبکیه باندې د هغه شی سرچپه تصویر جوړیږي د جوړ شوی تصویر د نور وړانګې د شبکیی حس اعصاب تحریک کوي،دا تحریک د برقی اغیزی په ډول د بصری عصب پواسطه وماغزو ته رسیږی او هلته دشی احساس منځ ته راځی ښایی چی د انسانانو لیدنه د هغوی د شخصی خصوصیت او یا حواسو د اعضاوو د تکامل په نسبت د یوه او بل څخه توپیر ولري خو د دې خبرې معنی دا نه ده چی د انسان خواص له عینی نړۍ څخه سم درک په لاس نشی منځ ته راوړلی.

ایدیالیستان وایی-انسان نشی کولای د نړۍ شیان وپیژنی ځکه هر سړی نړۍ په بیل ډول پیژنی او هر څوک بیل جهان لري خو دا خبره له بیخه غلطه ده ځکه چی انسان کولای شی د یوه حس پواسطه ډیر شیان وپیژنی خو که هغه کفایت ونکړی نو دبل حس څخه استفاده کوی که چیری د یوه انسان حواس د کوم شی له پیژندنی څخه عاجزه پاتې شی نو د نورو انسانانو د حواسو څخه مرسته غواړی او په پای کې د هغه شی د درک لپاره دقیق الات پکار اچوي.

درک:په حسی پوهه کې پر احساس سربېره ادراک او تصور هم شامل دي ادراک د حسی معرفت لوړه مرحله ده چی یو شی په کُلی توګه د ټولو خصوصیتو سره منعکسوي یا په بل عبارت د زیاتو حواسو پواسطه سره د یوه شی پېژندل د ادراک په نامه یادیږی.
تصور: د پخوانیو درک شوي شیانو بیا را په یادول تصور بلل کیږي.
دوهم)-منطقی پوهه: حسی پوهه د شیانو ماهیت او د تکامل قوانین نشی څرګندولای مثلاً موږ نشو کولای چی د لمر د وړانګو د لیدنی څخه د هغه په سرعت چی په یوه ثانیه کې درې سوه زره کیلومتره دی پوه شو خو د هغه په هکله فکر کولی شو دغه دوهمه وظیفه د منطقی پوهې پر غاړه ده.

منطقی پوهه د معرفت عالی او د کیفی پلوه نوي پوهه ده د منطقی پوهې پواسطه د شیانو د تکامل قوانین او داخلی طبیعت پېژندلای شو د منطقی پوهې اساسي شکل مفهوم-
دی.

مفهوم:

مفهوم د شیانو ټول خواص نه بلکه یوازی د هغوی اصلی او ماهوی خواص څرګندوي چی بشر د ډیرو اوږدو تجربو په نتیجه کې لاس ته راوړي دي مثلاً انسانانو ډیر دایروي شکلونه لکه د سپوږمۍ شکل،ګردۍ ډبری،د ونې د تنی دایروي مقطع او د نورو مشخصو شیانو د لیدنې او کتنې څخه د دایری مجرد مفهوم لاس ته راوړی دی:دایره هغه سطحه ده چی د محیط پواسطه احاطه شوی وي کوم چی له یوې نقطې څخه چی مرکز نومیږی مساوی فاصله ولري یا مثلاً د انسان مفهوم د یوه مشخص انسان څیره،ملیت،پوهه او نور خواص نه بلکه د انسان عمومی خواص چی د تفکر،خبری کولو او کار توان دی څرګندوي.

د مفاهیمو جوړولو دوه طریقی تجزیه او ترکیب دي.په تجزیه کې یو شی د هغه پر متشکله عناصرو باندې په فکر کې ویشل کیږی او ماهوی خواوي یی کشفیږي په ترکیب کې د یوه شی بیلې برخی سره ترکیبیږی.تجزیه او ترکیب د پوهې په جریان کې سره نه بیلیږی مثلاً مارکس په کاپیټال کې لمړۍ د سرمایدارۍ سیستم بیلی اجزاوي تجزیه او بیا یی د هغوي له ترکیب څخه د سرمایداری سیستم استثماری خصلت کشف کړی.

پخوا مو وویل چی د منطقی پوهې اساسی شکل مفهوم دی خو د مفهوم پر بنسټ دوه نور شکلونه منځ ته راځی چی حکم او منطقی نتیجه اخیستنه(نتیجه ګیری)بلل کیږي.

حکم:

حکم هغه دی چی یو شی تصدیقوي او یا یی ردوي مثلاً په سرمایداری ټولنه کې استثمار شته،مارکسیزم دګم ندی دوه حکمونه دي.

منطقی نتیجه د نوو حکمو څخه چی یو یی لوی حکم(کبرا)او بل یی کوچنی حکم(صغرا) بلل کیږی د دریم حکم په لاس راوړل د منطقی نتیجه اخیستنی په نوم یادیږی مثلاً

کمونست نشنلیست ندی....(لوی حکم)

مائویست نشنلیست ندی....(کوچنی حکم)

مائویست کمونست ندی....(نتیجه)

فرضیه او تیوری د پوهنې دوه نور شکلونه دي.د قوانینو او پدیدو په هکله د یوه حدس منل فرضیه ده مثلاً د ژوندیو شیانو د سرچینی فرضیه،تیوری دیوه واقعیت په هکله ژوره پوهه ده چی پراتیک یی تایید کړی مثلاً د نسبیت تیوری،د اتومی جوړښت تیوری،د مارکسیزم-لنینیزم تیوری.

## د حسی او منطقی پوهنې یووالی:

حسی او منطقی پوهه یوه واحده مجموعه جوړوي ځکه چی دواړه د عیني نړۍ انعکاس دی د دواړو بنسټ پراتیک دی او د دواړو اساسي عصبي سیستم دی.منطقي پوهه بې له حسي پوهې څخه منځ ته نشي راتلای د پوهې د یوه یا بل اړخ مطلقول د هغې له اصلي جریان څخه انحراف منځ ته راوړي.

امپریسیزم(د تجربې اصالت)په پوهه کې د منطقي پوهې رول کموي او وایي چی حسي پوهه د جهان اصلي منظره څرګندوي.

ریشنلیزم(دعقل اصالت)منطقي پوهنه د حقیقت سرچینه بولي او د حواسو پر اعضاوو باور نه لري.

دغه پورتني دوه انحرافونه د پوهنې په باب د ایدیالیستی عقیدې اساس جوړوي.

## د حقیقت تیوري:

حقیقت د واقعیت دقیق انعکاس دی.حقیقت د یوه شي په باب هغه معلومات دي چې هغه شی په سمه توګه منعکسوي مثلاً ځمکه کروي ده،په سرمایداري ټولنه کې استثمار شته.

دحقیقت په مارکسیستی تیوري کې باید په لاندنیو ټکو پوه شو،حقیقت عیني دی،حقیقت هم نسبي او هم مطلق دی،حقیقت مشخص دی او پراتیک د حقیقت معیار دی.

۱- حقیقت عیني دی:حقیقت د عیني نړۍ انعکاس او د انسان په شعور پورې اړه نلري مثلاً دغه حقیقت چې ځمکه پر لمر راڅرخي په انسان پورې اړه نلري او پخوا تر هغه چې-

انسان پیدا شي ځمکه پر لمر راګرځیدله.

۲- حقیقت هم نسبي هم مطلق دی:نسبي حقیقت د واقعیت نامکمل او مطلق حقیقت د واقعیت مطلقاً دقیق انعکاس دی.

انسان حقیقت په یوه ځل په مطلق ډول ندی پیژندلی ځکه چې د پوهې پرمختګ په تاریخي شرایطو،د تولید،علومو او تخنیک په سطح پورې اړه لري مثلاً زمونږ معلومات د سپوږمۍ په باب اساساً د واقعیت

سره سم دي او دا يو حقيقت دی چې سپوږمۍ کروي ده،دلمر څخه رڼا اخلي او پر ځمکه راګرځي خو د سپوږمۍ په هکله ډېر اصرار شته چې انسانان يي تر اوسه نه پيژني او وروسته به يي حل کړي نو د سپوږمۍ په باب د انسسان پوهه هم نسبي ده هم مطلق.

انسان د واقعيت په ځينو برخو کې داسې معلومات لري چې نه بدليږي مثلاً جهان تکامل کوي،حرکت مطلق دی،شعور د انسان د ماغزو خاصيت دی،دغه ټول مطلق حقيقتونه دي.

۳- حقيقت مشخص دی:څرنګه چې حقيقت د واقعيت د يوې ټاکلي برخې انعکاس دی نو تل مشخص وي او مجرد حقيقت نشته مثلاً د عرضې او تقاضا قانون په سرمايداری ټولنه کې د شيانو قيمت کنترولوي او دغه يو حقيقت دی خو دغه حقيقت په سوياليستي ټولنه کې صدق نه کوي ځکه چې هلته ټول اقتصاد او له هغې جملې څخه د شيانو قيمت د اقتصادي پلان له مخې تنظيميږي.

۴- پراتيک د حقيقت معيار دی:د دې لپاره چې د يوه حکم او يا يوې تيوری صحت او سموالی معلوم شي نو هغه په تجربه او پراتيک کې ازمويو.که د يوه حکم سموالی په عمل کې تاييد شي نو حقيقت لري نو ځکه د حقيقت معيار پراتيک دی ځينې امريکايي بورژوازي ايديالوګان د حقيقت معيار د انسان عقل بولي او پراګماتستان وايي-حقيقت هغه دی چې انسان ته ګټور وي او پدې وسيله استثمار،استعمار او امپرياليستی جګړې حقيقت او د عيني قوانينو سره سمې بولي خو دا له ريښې څخه غلطه ده او ګټورتيا د -

حقيقت معيار نشي کيدای بلکه هغه معلومات چې حقيقت ولري ګټور دي مثلاً مارکسيزم لنينيزم چې د بين المللي کمونستي جنبش پراتيک يي صحت تاييد کړيدی يو حقيقت دی او بشر ته تر هرې بلې ايديالوژی ګټور دی.

تاريخي ماترياليزم:

فلسفه يو پراخ علم دی کوم چې د مادي او معنوي نړۍ اساسي قوانين مطالعه کوي او ټوله بشري پوهه په يوه متکامله او متجانسه جهان بينی(نړۍ ليد)کې سره راغونډوي نو فيلسوفانو هغه پر بيلو برخو ويشلي ده.

۱-انتولوجي:دا څانګه په مارکسيستی فلسفه کې عيني جهان د مادي نړۍ عينيت نما ده او د هغې د موجوديت شکلونه(حرکت،زمان او مکان)د تکامل قوانين او د طبيعت د انکشاف په ټاکلي مرحلې کې د شعور راپيداکيدل مطالعه کوي.

۲-ايپستمولوجي او منطق:د بشري معرفت پروسه او دبشري افکارو شکلونه او د طبيعي علومو فلسفي مسايل مطالعه کوي.

۳-تاريخي ماترياليزم يا علمي سوسيالوجي: د اجتماعي انکشاف قوانين مطالعه کوي.بشر له ډيرو پخوا زمانو

څخه د دې پوښتنو د ځواب په لټه کې وو چې ایا اجتماعی نظامونه په تصادفي توګه منځته راځي یا د کومو قوانینو تابع دي،ایا د اجتماعي بدلونونو او پېښو علتونه څه شی دي؟ ایا د تاریخي پېښو جوړونکي وتلي کسان پادشاهان او قهرمانان دي او که خلک؟ ایا بشر د بدبختی او فهقرا پر خوا درومي یا د سوکالی او نیکمرغی پر لور؟ دې پوښتنو ته بیل بیل ځوابونه ورکړ شویدي خو دغه ځوابونه یا عالمانو او یا پخپله د بشري ټولنې د تکامل او تاریخ له خوا رد شویدي یوائې تاریخي ماتریالیزم چې مارکس کشف کړ د دې پوښتنو سم ځواب برابر کړ او د ټولنې اصلي خصلت او د هغې د تکامل قوانین یې څرګند کړل،هغه تولیدي مناسبات د نورو ټولو مناسباتو د بنسټ په څېر رابرسیره کړل، هغه د ټولنې د طبقاتي جوړښت او د ټاکلي تاریخي مرحلې د تولیدي طرز تر منځ رابطه وښودله،هغه د بیلو اجتماعي-اقتصادي فورمیشنو(جوړښتونو)موجودیت او د تولیدي قواوو
او تولیدي مناسباتو تر منځ د تضاد پر اساس د هغوی بدلون څرګند کړ.

باید پوه شو چې د اجتماعي تکامل مادي تیوري د مارکسیزم پر عمومي فلسفي اصولو بیا شویده.دفلسفې اساسي مسله د تفکر او مادي نړۍ تر منځ اړیکې دي او څرګندوي چې شعور د مادي تکامل محصول دی.تاریخي ماتریالیزم دغه علمي اصل د اجتماعی پیچلو مسلو د حل لپاره پکار اچوي او دې نتیجې ته رسیږي چې اجتماعي شته والی(مادي اجتماعي مناسبات چې د ټولنې اقتصدي اساس جوړوي)د خلکو تر اجتماعي شعور(د هغوي سیاسي،فلسفي،مذهبي او نور نظریات)څخه لومړی دی او اجتماعي شعور د اجتماعي شته والي محصول دی.

دیالکتیکي ماتریالیزم جهان د بدلون او تکامل په حال کېویني او څرګندوي چې د تکامل اصلي سرچینه داخلي تضادونه دي.همدا ډول تاریخی ماتریالیزم ټولنه د پرمختګ په حال کې مطالعه کوي او څرګندوي چې د اجتماعی تکامل اصلي منبع د تولیدي قواؤ تولیدي مناسباتو ترمنځ تضادونه دي چې په نتیجه کې د یوه تولیدي طرز پر ځای بل او نوی تولیدي طرز منځته راځي.

د دیالکتیکي ماتریالیزم له مخې پوهیږو چې نوی کیفیت په زاړه کیفیت کې د کمیتي بدلونو په نتیجه کې د یوه ټوپ یا جهش له لارې پیدا کیږي.په ټولنه کې همدا ډول نوی اجتماعي-اقتصادي فورمیشن(نوی کیفیت)په زاړه فورمیشن(زوړ کیفیت)کې د تولیدي قواؤ د تکامل او نورو عیني او ذهني شرایطو د بدلون(کمي تراکم)په نتیجه کې د احتماعي انقلاب له لارې منځته راځي.

همدا ډول د دیالکتیک د نفي نفي قانون ښيي چې زوړ شی یا پدیده د نوی له خوا نفي کیږی او د نفي نفي قانون د تکامل عمومي جهت څرګندوي.په ټولنه کې هم زوړ اجتماعي نظام د نوي او مترقي لخوا نفي کیږي مثلاً لومړی کمون د مریي توب او مریيتوب د فیودالیزم لخوا نفي شویده.نوی اجتماعي-اقتصادي فورمیشن د زاړه اجتماعي نظام هغه اړخونه چې مترقي او ګټور دي ساتي او بیکاره او زیانمنې خواوي یې ردوي.نو د همدې -

اصل له مخې څرګندیږي چې د تاریخ لوری مترقي دی او ټولنه تل د ښکته او بیرته پاتې نظام څخه د مترقي سیستم پرخوا تکامل کوي.تاریخي ماتریالیزم د ټولنې د تکامل عمومي قوانین مطالعه کوي،دټولنې عمده اړخونه څرګندوي او دټولنې د ټولو برخو او قوانینو متقابل عمل څیړي.

## ټولنه څه شی ده !

ټولنه دخلکو د اجتماعي،سیاسي او معنوي مناسباتو د مجموعې څخه عبارت ده چې د یوه ټاکلي تولیدي طرز پر بنسټ منځ ته راځي.د دې تعریف څخه څرګندیږي چې مادي تولید د ټولنې بنسټ تشکیلوي او د ټولنې د بې شمیره روابطو په منځ کې تولیدي مناسبات ټاکونکی رول لري.مادي تولید ځکه د ټولنې د نورو مناسباتو اساسي بنسټ دی چې انسان پخوا تر دې چې د فلسفي،سیاسي او نورو نظریو په باب فکر وکړي باید ډوډی،کالي او کور ولري.څرنګه چې دغه مادي نعمتونه په طبیعت کې چمتو نه دي پراته نو انسان مجبور دی هغه پخپل کار سره د ابزارو په مرسته تولید کړي او د دې مادي تولید په جریان کې د انسانانو تر منځ یو ډول مناسبات راپیداکیږي چې هغه تولیدي مناسبات بولي.د همدې تولیدي مناسباتو او تولیدي قواؤ مجموعه د تولید طرز تشکیلوي چې د یوه اجتماعي- اقتصادي فورمیشن بنسټ جوړوي.

## د تولید طرز (ډول)

د تولید طرز د تولیدي قواؤ او تولیدي اړیکو یووالی دی یا په بل عبارت تولیدي طرز د تولیدي روابطو ټیپ دی چې د تولیدي قواؤ د انکشاف د یوې ټاکلي سویې سره مطابقت ولري.د تولید طرز،یو په بل د هغه بدلون او تکامل د سیاسي اقتصاد علم بیانوي.موږ دلته یوازې د هغه عمده اړخونه او دتکامل سیر په لنډ ډول څیړو.

د تولید طرز دوه عمده عناصر، تولیدي قوتونه او تولیدي مناسبات په غیږ کې نیسي.

## تولیدي قواوي:

تولیدي قوتونه د تولیدي طرز مضمون تشکیلوي او د ټولنې د تکامل محرکه قوه ده.تولیدي قواوي د تراکم(د تولید وسایل)او ژوندی کار(انسان او د هغه مهارت)مجموعه ده.

دکار وسایل: د کار وسایل دلومړی انسانانو د ډبرې د ابزارو،کوتک او تبرګي څخه د نن ورځې تر لویو ماشینونو او اتومي دستګاوؤ پورې ټول په غیږ کې نیسي.د تولید په جریان کې د تولید تر وسایلو سربیره اومو موادو لکه تیل،ګاز،برق او نورو ته هم ضرورت شته چې هغه هم د تولید د وسایلو جز دي.

انسان او د ده مهارت: انسان چې د تولیدي قواؤ مهم عنصر دی د لومړی انسانانو څخه د اوسني عصري انسان پورې خپله پوهه او مهارت بشپړ او هر اړخیزه کړیدی.ځکه انسان ابزارونه پکار اچوي او مجبور دی چې د ښه او ډیر تولید لپاره نه یوازې د کار وسایل بشپړ او زیات کړي بلکه ورسره پر اړخ باید د هغه د استعمال لپاره خپله پوهه او مهارت هم پیاوړی کړي.

څرنګه چې توليدي قواوي هغه قوتونه دي چې خلکو د طبيعت د قوانينو په مرسته منځ ته راوړي دي نو توليدي قوتونه پر طبيعت باندې د انسان د تسلط درجه ټاکي.

## توليدي مناسبات:

توليدي قوتونه له يوې خوا د خلکو او طبيعت روابط بيانوي او له بلې خوا پخپله د خلکو تر منځ مناسبات راپيدا کوي.د توليدي عملي په جريان کې د خلکو تر منځ يو ډول مناسبات چې توليدي مناسبات بلل کيږي منځ ته راځي.

لکه کارل مارکس چې وايي:((دوی د دې لپاره چې توليد وکړي يو د بله په ټاکلو اړيکو او مناسباتو کې داخليږي چې پر طبيعت باندې د دوی عمل او توليد يوازې پدغو اجتماعي اړيکو او مناسباتو کې صورت نيسي)) (د.ک.مارکس او ف.انګلس منتخبات.لومړی ټوک- ۸۹ پاڼه).دخلکو ترمنځ دغه مناسبات په عيني توګه موجود او د دوی تر ارادې وتلي دي. انسانان اکثره د پخوانيو توليدي مناسباتو سره مخامخ کيږي چې حتی د دوی ترزيږيدنې د مخه راپيدا شوي وي.د توليدي مناسباتو اجزا عبارت دي له:لومړی)خلک د طبيعت څخه د مادي نعمتونو لاسته راوړلو لپاره د کار د وسايلو او په عمومي توګه د توليدي وسايلو سره ارتباط لري او د توليد د وسايلو سره د خلکو روابط په توليد کې د خلکو ترمنځ مناسبات په ټاکلو توليدي مناسباتو کې عمده عامل دی.

دوهم)د توليدي وسايلو سره د خلکو مناسبات په ټولنه کې د بيلو طبقو او اجتماعي قشرونو د منځ ته راوړلو علت ګرځي نو د طبقو او اجتماعي ګروپونو او نورو ترمنځ اقتصادي مناسبات د توليدي مناسباتو يوه برخه تشکيلوي.

دريم)کله چې د کار اجتماعي ويش منځ ته راغی او بيلې اجتماعي طبقې راپيدا شوي توليدونکي طبقې يي يوه د بلې سره نژدې کړي نو د دې مولده طبقو د بيلو ډلو ترمنځ يي يو ډول متقابل مناسبات چې ځينې وخت د هغوی ترمنځ د پخلاکيدونکي(اشتی پذير) تضادونو په شکل تظاهر کوي راپيدا کړل لکه بدني او دماغي کارګر او کلي او ښار ترمنځ مناسبات او نور.

څلورم)توليدي مناسبات د توليد تر ساحې سربيره د اجتماعي توليد توزيع هم په غيږ کې نيسي.د تليدي مناسباتو له پورتنی څيړنې څخه څرګنديږي چې د دې مناسباتو مهم او ټاکونکی عنصر د توليدي وسايلو سره د خلکو ارتباط تشکيلوي چې نور اجزاء د هغه څخه رازيږي.

## د توليد د طرز عمده خواص:

د توليد د پورتنيو دوو اړخونو يعنې توليدي قوتونو او توليدي مناسباتو يووالی او د هغوی خاص ارتباط ټاکلی توليدي طرز منځته راوړي.خو پدې دوو اړخونو کې توليدي قوتونه د توليد په جريان کې ټاکنوکی رول لوبوي.څرنګه چې توليدي قوتونه پريوه ځای نه دريږي او خلک د ډير او ښه توليد لپاره تل د کار

ابزارو او توليدي وسايلو ته تکامل ورکوي ورسره خپل مهارت هم زياتوي کله چې دغه تکامل و يوې ټاکلي مرحلې ته ورسيږي او نور د زړو مناسباتو دننه نه ځاييږي نو اجتماعي انقلاب حتمي کيږي او نوي توليدي مناسبات چې د توليدي قوتونو د تکامل لپاره لاره خلاصوي منځته راوړي.توليدي مناسبات د توليدي طرز د شکل په څېر د توليدي قواؤ سره په متناسبه توګه بدلون مومي البته توليدي مناسبات د-

تکامل پدې جريان کې پاسيف نه دي او لکه شکل چې د مضمون په تکامل کې فعال رول لري توليدي مناسبات همداډول د توليدي قواؤ په وده کې فعال رول لوبوي مثلاًهغه وخت چې فيودالي توليدي مناسباتو د توليدي قوتونو مخه نيولې او د توليدوونکو طبقو ژوند خراب او اجتماعي بې عدالتی منځته راغلي وي نو دې وضعي د بورژوازي انقلاب شرايط منځته راوړل او انقلاب د ځان سره نوي مناسبات راپيدا کړل.بورژوازي توليدي مناسباتو د توليدي قواوو مخه خلاصه کړه او د توليد په تاريخي پروسه کې يي مترقي رول ولوباوه خو وروسته بيا کله چې بورژوازانو خپل موقف ټينګ کړ او د سرمايداري توليدي طرز خاص تضادونه داقتصادي بحرانو علت وګرځيدل نو سرمايداري توليدي مناسباتو د توليدي قواوو مخه ونيوله او ارتجاعي رول يي ولوباوه چې بايد هغه بيله منځه يووړل شي او د توليدي قوتونو د ودې مخه پرانستل شي.

د توليدي مناسباتو او توليدی قواوو مطابقت د توليد او ټولنې د تکامل قانون دی که دغه توافق وجود ونلري يعنې توليدي قوتونه پرمخ تللي او توليدي مناسبات ترشا پاته شوي وي نو د دوی ترمنځ تضاد شدت مومي او اجتماعي انقلاب حتمي کيږي.د انقلاب تر بريالي کيدو وروسته بيا دغه مطابقت په نسبي توګه صورت نيسي.

## د خلکو د اتحاد شکلونه:

دخلکو يووالی مشخص او د تاريخي لحاظه ټاکلي شکلونه لري ځيني له هغوی څخه د اجتماعي ژوند د خاصو ساحو خلک سره تړي لکه تعليمي او کلتوري انجومنونه،ځيني نور شکلونه د اجتماعي ژوند د شرايطو او فعاليتونو له مخې د بيلو بيلو ساحو خلک سره متحد کوي مثلاً طبقه،فاميل،قبيله،مليت،ملت او نور.

فاميل(کورنۍ) : کورنۍ د ټولنې په ژوند کې مهم ځای لري.کورنۍ دلومړني کمون په مرحله کې چې اجتماعي طبقې لا نه وي راپيداشوي منځته راغله او په ټولو اجتماعي فورميشنو کې يي ادامه ومونده.کورنۍ په طبقاتې ټولنه کې درې وظيفې اجرا کوي:دمخالفو جنسونو ترمنځ رابطې تنظيموي،دکار د قوي تکثر او د کوچنيانو روزنه کوي،د کورني اقتصاد وظايف

سرته رسوي يعنې د فاميل د غړو کورنۍ اړتياوي پوره کوي.فاميل په کمونستی ټولنه کې و خپلې لوړې مرحلې ته رسيږي چې د سرمايداري ټولنې د کورنۍ سره کيفي توپير لري.

قبیله: د خلکو نسبتاً ثابته ټولنه ده چې د وینې د ګډون روابطو،د ځمکې د ټولنیز مالکیت او ګډ کار پر بنسټ ولاړه ده.

ملیت: د خلکو هغه ټولنه ده چې د لومړي کمون د تجزیي په شرایطو کې د قبیلو د اتحاد پر اساس منځته راغله.په دغه وخت کې له قبیلوي لهجو څخه په تدریجي توګه مشترکې ژبې شکل واخست.هر ملیت د ورځني ژوند د نظام،رواجونو،د اقتصادي فعالیت د ډول،د کورني ژوند د وسایلو،د ودونو او عنعناتو پواسطه مشخص کیږي.

ملیت د لومړني کمون په ټوله دوره او په فیوډالي ټولنه کې تر ډیره وخته پورې موجود وو د فیوډالیزم په پاي کې کله چې د هغې په نس کې سرمایداري مناسبات راپیداشول تجارتي روابطو د طبیعي اقتصاد شکل له منځه یووړ او د هیواد د بیلو بیلو سیمو ترمنځ کلکې اقتصادي اړیکې ټینګې شوي نو د ملت د جوړښت زمینه منځته راغله.

ملت: ملت د خلکو د ټولنې عصري شکل دی چې د مارکسیستي تعریف له مخې ملت د انسانانو هغه ثابته ټولنه ده چې د تاریخي تکامل په اوږدو کې منځته راغلي ده کوم چې ګډ وطن،مشترک اقتصادي روابطو،مشترکه ژبه او یو ګډ روحي جوړښت ولري چې د خلکو د کلتور په خاصو څیرو کې یې انعکاس موندلی وي.

ملت د ټولنې د تاریخي تکامل محصول دی.ملت د فیوډالیزم په پاي کې او د سرمایداری د استقرار په مرحله کې منځ ته راغی.ملت د سرمایداری،سوسیالیزم او کمونیزم په ټوله دوره کې وجود لري او یوازې هغه وخت له منځه ځي چې کمونیزم په جهاني سویه بریالی شي.

## اجتماعي طبقې:

کله چې د تولید یو ډول په بل واوړي نو د هغه سره سم د تولید د وسایلو د خصوصي مالکیت شکل،اجتماعي طبقې،طبقاتي ساختمان،عمده طبقې او داستثمار طریقې بدلیږي. و.ای.لنین وایي: طبقات د خلکو هغه لوي ګروپونه دي چې د تاریخ له مخې په ټاکلي -

اجتماعي تولیدي سیستم کې د بیلو موقعیتونو په نیولو د تولید د وسایلو سره د هغوی د مناسباتو(چې په اکثره وختونو کې په قانون سره ټاکل شوي وي) دکار په اجتماعي تنظیم کې د هغوی د رول او په نتیجه کې د اجتماعي ثروت څخه د هغوی دبرخې د اندازې څخه کوم چې دوی یې لاس ته وروړي او دهغه د حاصلولو د طریقې پواسطه سره بیلیږي. طبقې د خلکو هغه ډلې دي چې یو د هغوی څخه د بلې ډلې کار د هغه بیل ځای له کبله چې داجتماعي اقتصاد په معین سیستم کې یې اشغالوي تصاحب کولای شي.(لنین.کلیات ۲۹ټوک ۴۲۱پاڼه).

د پورتنی شرحي څخه معلومیږي چې د تولید د وسایلو سره د خلکو روابط پر طبقو باندې د خلکو په -

ویشلو کې اساسي عامل دی یعنې طبقې په هغه تولیدي طرز کې چې خصوصي مالکیت منځ ته نه وو راغلي وجود نه درلود او طبقې د خصوصي مالکیت سره راپیدا شوي.یعنې طبقې د انتاګونستي یا متضاد تولیدي طرز نتیجه ده.

د ټولنې طبقاتي ویش د لومړني اشتراکي سیستم په پاي کې پیل او د مریتوب په دوره کې بشپړ شو.دمریتوب په مرحله کې طبقات په دوو طریقو منځته راغلي دي.لومړی)دا چې بادارانو د جنګ بندیان خپل مریان کړل او دوهم)دا چې په ټولنه کې نابرابري منځ ته راغله،ثروت د یوې طبقې په لاس ورغی نو پوروړي کسان د ثروتمندانو مریان شول.

عمده او فرعي طبقې: په هره ټولنه کې اصلي او فرعي طبقې موجودې دي.اصلي یا عمده طبقې هغه دي چې د مسلط تولیدي طرز په نس کې منځته راغلي وي.د مریتوب په دوره کې د ټولنې عمده طبقې باداران او مریان او فرعي طبقې يي بزګران او صنعت ګران دي. په فیوډالي ټولنه کې عمده طبقې فیوډالان او بزګران دي.حاکمه طبقې پر دوو اجتماعي ایستیتونو ویشل شوي وو.اجتماعي سیټ یوه طبقه یا د طبقو ډله ده چې په هغه کې اجتماعي امتیازونه د قانو له مخې ټاکل کیږي.اجتماعي ایستیتونه په هره طبقاتي ټولنه کې وجود نلري بلکه یوازي په هغو ټولنو کې شته چې د اقتصادي تسلط سربیره غیراقتصادي فشار هم موجود وي فیوډالي ټولنه داشرافو او روحانیونو پر دوو ایستیتونو ویشل شوي وه.

د حاکمه طبقو متقابل مناسبات او ویشونه د یوې هیرارشی(درتبو سلسله)په شکل څرګندیدل پدې ډول چې د هیواد په راس کې پاچا واقع وو او لوی فیوډالان د هغه واسلان وو چې د ځمکې د موقتي یا دایمي او میراثي مالکیت په مقابل کې به یي و پاچا ته ځینې وظیفې اجرا کولې مثلاً د جنګ په وخت کې به یي هغه ته عسکر،د هغوی وسله،اسونه او غذایي مواد برابرول،په جنګونو کې به یي د هغه سره برخه اخیستله واسلانو پخپل وار د نورو کوچني فیوډالانو سره همدا ډول مناسبات درلودل یعني وروسته له پاچا،بادون،کونت او بیا واړه فیوډالان واقع وؤ. د فیوډالي ټولنې فرعي طبقې عبارت دي –لومړی)باداران او مریان چې په فیوډالي ټولنه کې د پخواني اقتصادي طرز بقایاوي دي.دوهم)کسبکاران. دریم)د سرمایداري سیستم عناصر لکه کارګر،بورژوازي یا د وړې بورژوازی عناصر. دسرمایداري سیستم اصلي طبقې کارګر او سرمایه دار دي البته نورې فرعي طبقې لکه فیوډالان،بزګران او نورې هم شته.

د ټولنې طبقاتي ویش چې د خصوصي مالکیت پر بنسټ منځ ته راغلی دی تر ټولو ډیر اساسي او ژور تقسیم دی که څه هم په طبقاتي ټولنو کې د خلکو د ویش نورې طریقې هم شته خو هغوی د لومړني طبقاتي ویش پر اساس منځته راځي او د هغه نتیجه ده.

همدا ډول باید پوه شو چې د ټولنې د متضادو جریانو اساس د طبقاتو متقابل مناسبات او طبقاتي مبارزه ده.

طبقاتي مبارزه:

طبقاتي ګټې په ټولنه کې د هرې طبقې دريځ او د نورو طبقو سره د هغوی مناسبات منعکسوي.طبقاتي ګټې پر دوه ډوله دي:لومړی عمده او اساسي ګټې هغه دي چې يوه طبقه د خپل موجوديت په ټول وخت کې د هغه د لاس ته راوړلو لپاره مبارزه کوي مثلاً په سرمايداري ټولنه د پرولتاريا مبارزه چې د سرمايداري سيستم او استثمار د له منځه وړلو او د ځان د ازادولو لپاره يې کوي د هغوی عمده او اساسي ګټې منعکسوي او همدا ډول د بورژوازانو اصلي او عمده ګټې په دې کې دي چې د زياتې پيمانې توليد او د توليدي وسايلو

خصوصي مالکيتونه وساتي او هغه تل ترتله کړي.د کارګر او سرمايدار ګټې پخلاکيدای نشي ښايي چې د هغوی ترمنځ مبارزه په موقتي توګه وځنډيږې او د ځنډونو سره مخامخ شي خو هغه په مصالحه او سازش پاي ته نه رسيږي او په حتمي توګه د سوسياليستي انقلاب لاه لارې او د انقلابي طبقې په ګټه ختميږي.

دوهم-موقتي او جزيي ګټې دي چې د ژوند او مبارزې په جريان کې راپورته کيږي مثلاً د کار د شرايطو ښه والی،لوړ معاش او نورو لپاره د کارګرانو مبارزه.د موقتي ګټو دپاره دا امکان لري چې دغه مبارزه د مصالحې او امتياز اخستلو له لارې حل شي.

د دښمنو طبقو د اساسي او عمده ګټو تضاد د طبقاتي مبارزې اصلي محتوی تشکيلوي.د يوې طبقې لخوا د هغوی د ګټو شعوري درک د طبقاتي مبارزې وظايف او اهداف ټاکي. د توليدي قواوو او توليدي مناسباتو ترمنځ تضاد په طبقاتي مبارزه کې انعکاس مومي پدې ډول چې د محکومې طبقې د توليدي قوتونه ترقي او تکامل غواړي پداسې حال کې چې ارتجاعي طبقې د زړو توليدي مناسباتو ساتنه کوي.طبقاتي مبارزه د مادي توليدي انکشاف له قانونمندی څخه رابورته کيږي او طبقاتي مبارزه د يوه ټاکلي توليدي طرز دمنځته راوړلو لپاره مبارزه ده.د پرولتاريا د راپيداکيدو پخوا د محکومو طبقو يعنې مريانو او سرفانومبارزه د مرييتوب او فيوډالي سيستمونو پر ضد اګاهانه او شعوري نه وه مثلاً بزګرانو د فيوډالي سيستم پر ضد ډيرې شديدې مبارزې او جګړې وکړې خو په نتيجه کې يي سرمايداري توليدي طرز منځ ته راغی.دا نشو ويلای چې د هغوی هدف په شعوري توګه د سرمايداري سيستم منځته راوړل او د هغه طرفداري وه بلکه هغوی د دې لپاره مبارزه کوله چې د فيوډالي سيستم د ظلم او ستم دروند جغ(يوغ)له خپلو اوږو وغورځوي او ځان ترې خلاص کړي.هغوی نه پوهيدل چې د دوی د مبارزې نتيجه به د سرمايداري مزدوری د منځ ته راوړلو او يواځې داستثمار د شکل د بدليدلو سبب وګرځي.يواځې کله چې پرولتاريا د تاريخ په ډګر کې ښه کيښودله نو مسلې تغير وموند او پرولتاريا د خپل مخکښ حزب تر لارښوونې لاندې په شعوري توګه دسرمايداري توليدي طرز پرضد مبارزه پيل کړه. دوی پوهيږي چې د سوسياليستي انقلاب او پرولتاريا ديکتاتوری له لارې د سوسياليزم د برياليتوب لپاره مبارزه کوي.

اوس به وګورو چې اجتماعي انقلاب څه شی دی او کومې وظيفې سرته رسوي.

اجتماعي انقلاب:

څرنګه چې د توليدي قوتونو او توليدي مناسباتو تمنځ تضاد موجود دی يعنې زاړه توليدي مناسبات،دمالکيت شکل او د هغوی مربوط سياسي رژيم د توليدي قوؤد نورې ودې او تکامل مخه نيسي نوکله چې داتضاد يوې ټاکلي مرحلې ته ورسيږي کله چې نوی مضمون د زاړه شکل په نس کې منځته راشي او نور په هغه کې نه ځاييږي غواړي هغه وچاودي نو د هغې ټولنې عيني شرايط د کيفي بدلون او اجتماعي انقلاب لپاره اماده دي. که د انقلابي طبقو اجتماعي سازمانونه دغه عيني شرايط صحيح درک کړي او وکولای شي پراخ اولسونه چې د زړو مادي مناسباتو ترجغ لاندې ساتل شوی د نوي اجتماعي مناسباتو د ايجاد لپاره راپورته کړي يعنې ذهني شرايط اماده کړای شي نو انقلاب بريالی کيږي او نوي ټولنه د نوي مناسباتو سره رازيږي.لکه مارکس چې وايي:انقلاب لکه يوه دايي د نوي مضمون د رازيږيدو کار اسانه کوي او ټولنه دهغه له درده څخه خلاصوي.

کله چې انقلاب بريالی شو او سياسي واک د انقلابي طبقو په لاس کې ولېږي نوی سياسي رژيم د توليدي قوتونو ودې او تکامل ته زمينه مساعدوي،نوی طرز منځ ته راځي، د نوي اقتصادي مناسباتو سره نوي سياسي،قضايي،فلسفي او کلتوري روابط راپيدا کيږي زړه روبنا خپل ځاي و نوي روبنا ته پريږدي.ټول انقلابونه يوشان وظيفې نلري او د تاريخي مشخصو شرايطو له کبله توپير سره لري سوسياليستي انقلاب د نورو انقلابونو سره ځينې توپيرونه لري مثلاً په نورو انقلابونو کې يواځې د استثمار يو شکل په بل اوړي خو سوسياليستي انقلاب استثمار بيخي له منځه وړي،په نورو انقلابونو کې خلک د حاکمه طبقاتو لخوا د يوې وسلې په څير پکار لويږي خوپه سوسياليستي انقلاب کې خلک او په خاصه توګه کارګره طبقه د انقلاب د محرکه قوي سربيره دهغه لاربښوونکي وي،په سوسيا-

ليستي انقلاب کې د خصوصي مالکيت پرځای اجتماعي مالکيت ټينګيږي.

سوسياليستي انقلاب دنورو انقلابو پر خلاف د زاړه دولت او زړو اقتصادي روابطو د محوه کولو تر تخريبي وظيفې سربيره تعميري وظيفه يعنې د سوسياليزم جوړښت او د کمونيزم لپاره د لارې د جوړولو وظيفه هم پر غاړه لري.

روبنا او زيربنا څه شی دي؟

لکه چې پخوا مو وويل په طبقاتي ټولنو کې د توليدي قواوو د تکامل سره نوي توليدي مناسبات بې لدې چې د انسان اراده او شعور پکې شامل وي منځته راځي. توليدي مناسبات د يوې ټولنې توليدي اجتماعي مناسبات ښيي او دا ډول د يوې ټولنې بنسټ جوړوي نو هغوی د خپل ماهيت له مخې د ټولنې زيربنا بلل کيږي پر کومه چې اجتماعي روبنا تکيه کوي.

روبنا له درو عمده عناصرو څخه جوړه ده:اجتماعي نظريات،اجتماعي سازمانونه او موسسې او ايډيالوژيکي راوبط دا درې عناصر يوله بل سره نژدې اړيکې لري.روبنا له هر څه د مخه د يوې معينې طبقې اجتماعي نظريات او تيوري ګانې دي دا تيوري ګانې يوه پراخه ساحه په غيږ کې نيسي او په هره برخه کې د مربوطې طبقې له ګټو څخه دفاع کوي مثلاً دا نظريات په متضادو ټولنو کې خصوصي مالکيت او استثمار چې له هغه څخه راپيدا کيږي عدالت بولي او کوښښ کوي چې هغه ګټور،حتمي او تل ترتله ثابت کړي.دغه نظريات يوه پراخه ساحه له سياسي او قضايي نظريو تر فلسفي،مذهبي،ادبي او نورو پورې ټول په غيږ کې نيسي.دروبنا دوهمه برخه هغه سازمانونه او موسسې دي چې له پورتنيو نظرياتو او تيوري ګانو سره اړيکې لري مثلاً سياسي،قضايي،فلسفي،مذهبي او نور نظريات له ټاکلي ډول موسسو او اجتماعي-سياسي سازمانو له بشپړ سيستم سره ارتباط لري دغه ټول سازمانونه يو دبله سره نژدې رابطې لري او د حاکمه طبقاتو نظريات تبليغ او خپروي.

د روبناء دريمه برخه هغه انساني فعاليتونه او روابط په غيږ کې نيسي چې دټاکلي نظرياتو تر تاثير لاندې د سازمانو او موسسو د يووالي څخه عبارت ده چې د خلکو ايديالو-

ژيکي فعاليتونه او ايديالوژيکي روابط ټاکي. پوهيږو چې زيربناء د روبناء اساسي خصلتونه ټاکي خو د هغه سره پوره مطابقت نلري او په نسبي توګه مستقل تکامل کوي.کله چې نوي روبناء منځته راشي پرخپل وار د زيربناء پرتکامل فعال تاثير کوي او هم کيدلای شي چې روبناء د نوي زيربناء د شاته غورځولو علت وګرځي.که څه هم ټول روبنايي روابط د ټولنې د زيربناء د بدلون سره بدليږي خو د هغه ځيني عناصر د زيربناء سره نژدې او ځيني نور يي ليرې اوغير مستقيم ارتباط لري مثلاً د خلکو سياسي روابط،د مبارزې شکلونه،دولت،قانون،سياسي او قضايي نظريات د زيربناء تر مستقيم تاثير لاندې بدلون مومي او د خلکو اخلاقي نظريات او روابط بيا د وروستيو نظرياتو سره نژدې ارتباط لري.خو فلسفه اوپه خاص ډول مذهب له زيربناء څخه ليري وي اود هغې  سره يي رابطه د سياسي او اخلاقي روابطو لخوا ټاکل کيږي د هنر ځينې برخې لکه معماري له زيربناء سره نږدې او نورې برخې لکه موسيقي له هغه څخه ليرې وي.

## سياست څه شی دی؟

سياست د روبناء په متشکله عناصرو کې تر ټولو عمده او ټاکونکی رول لري ځکه چې په طبقاتي ټولنو کې توليدي روابط طبقاتي خصلت لري او سياست چې د هغه انعکاس دی په ټولو هغو ټولنو کې چې طبقې موجودې وي د روبناء خاصيت ټاکي.نو سياست دطبقو تر منځ روابط دي.دطبقو ترمنځ بيلې بيلې اړيکې شته خو سياست له نورو څخه توپير لري.دوه عمده عوامل سياست د طبقو ترمنځ د عمده روابطو په څير ښکاره کوي لومړی تر هرڅه سياست د طبقو اساسي ګټې منعکسوي مثلاً دکارګرې طبقې لپاره دا خبره دومره مهمه نه ده چې خپله د کار قوه په ښه قيمت خرڅه کړي بلکه د مزدوری کار د ستم يا سرمايداری

سیستم له منځه وړل د دوی د مبارزې هدف او وظیفې ټاکي.نو هره طبقاتي مبارزه د یوه خاص تولیدي طرز دمنځته راوړلو لپاره مبارزه ده چې په خپل عالیترین شکل کې په سیاسي مبارزې بدلیږي یعنې سیاسي مبارزه دزیارایستونکو خلکو د ازادی لپاره د مبارزې عالیترین شکل دی.نو سیاست د هرې طبقې اقتصادي وضع څرګندوي او اساسي

منافع یې بیانوي.

دوهم-دخلکو ترمنځ سیاسي روابط هغه وخت شکل اخلي چې دخلکو له مغزونو څخه تیر شي ځکه دټولو دهقاني جنګونو،ملي ازادي بخښونکو مبارزو او پرولتري انقلابو دپاره د اولسونو لږ او ډیر شعوري حرکت ضرور دی څو اجتماعي،ملي او طبقاتي ستم پاي ته ورسوي.نو سیاست د طبقو یا د طبقو د ډلو یا نورو اجتماعي قشرونو او دولت په مقابل کې د نورو طبقو یا طبقو د ډلو د لږ یا ډیر شعوري سلوک کړنلاره ده.سیاست د طبقو دفعالیت لاره ده چې د دوی اقتصادي وضع او اصلي ګټې منعکسوي.په لنډ ډول سیاست د اقتصاد فشرده بیان دی.سیاست سربیره پر پورتنیو روابطو د دولتونو او ملتونو ترمنځ روابط هم په غیږ کې نیسي.

## دولت څه شی دی؟

دغه ټول پورتني روابط دسیاسي او نورو موسسو له لارې عملي کیږي په طبقاتي ټولنو کې د حاکمو طبقو سیاست لومړی تر هرڅه د دولت لخوا اجرا کیږي چې دمحکومو طبقو سره د هغوی د مبارزې ترټولو مهمه وسله ده. نو د محکومو طبقو ترټولو اساسي وسله سیاسي حزب یا ګوند دی چې د هغه پواسطه دخپلو عمده ګټو د لاس ته راوړلو دپاره مبارزه کوي. ځکه نو دولت او حزب د سیاسي مبارزې په مرکز کې واقع دي.

دولت د یوې یا څو طبقو د تسلط اله ده.دولت تل د یوې طبقې یاڅو طبقو دیکتاتوري ده پر نورو طبقو باندې او هغه وخت منځته راغی چې ټولنه پردښمنو طبقو وویشل شوه.نو دولت د طبقو دنه پخلاکیدو(اشتی ناپذیری)نتیجه ده.په لومړی اشتراکي ټولنه کې دولت موجود نه وو اوټول کارونه پخپله دټولنې لخوا تنظیم او اداره کیدل او هم په کمونستي ټولنه کې دولت زوال مومي دمریتوب،فیوډالیزم او سرمایداری په طبقاتي ټولنو کې دولت پر مریانو،سرفانو،بزګرانو او کارګرانو دبادارانو،فیوډالانو او سرمایدارانو دیکتاتوري ده چې سوسیالیستي ټولنه کې د دولت ډول یا ټیپ دپرولتاریا دیکتاتوري ده.یعنې دولت تل طبقاتي ماهیت لري یوازې په هغه ټولنه کې چې سوسیالیزم په پوره توګه بریالی شوی وي-

نودولت په تاریخ کې دلومړی ځل لپاره د ټولو خلکو دولت ګرځي او خپل طبقاتي خاصیت له لاسه ورکوي او بیا په کمونستي ټولنه کې په تدریجي توګه له منځه ځي او زوال مومي.د دولت ټیپ دټولنې په اجتماعي اقتصادي فورماسیون پورې اړه لري.ښایي په یوه استثماري ټولنه کې د دولت سیاسي سیستم تغیر ومومي

مثلاً کیدای شي بورژوازي دلتونه فاشیستي،مشروطه پادشاهي یا جمهوري او پارلماني شکلونه واخلي خوماهیت یې نه بدلیږي او هغه ډیر دموکراتیک بورژوازي دولت هم دخپل ټیپ له مخې یو استثماري دولت او پر نورو طبقو د یوې طبقې یاځو طبقو د تسلط اله ده.

## د اولسونو او فرد رول په تاریخ کې:

استثمارونکي طبقې د دې لپاره چې داقلیت لخوا دخلکو داکثریت یعنې کارگرانو،بزگرانو او نورو زیارایستونکو محکومول سم کار او عدالت ثابت کړي نو کوښښ کوي چې د ټولنې په ژوند او تکامل کې د اولسونو رول لږ یا هیڅ وښي دوی وایي چې تاریخ د پادشاهانو،جنرالانو اوقهرمانانو لخوا جوړیږي او وتلي کسان په ازادانه توگه او بې له دې چې عوام الناس یعنې عادي کارگران،بزگران او نور زیارایستونکي د هغوی په کارونو کې مداخله وکړي خپلې ارادې عملي کوي.

مارکسیزم-لنینیزم د استثمارونکو طبقو دغه درواغجنې تیوری گانې ردې کړي او څرگنده یې کړه چې خلک په تولیدي،سیاسي،کلتوري او ټولو نورو ساحو کې قاطع او فیصله کونکی رول لري.

خلک د تولید ابزار منځ ته راوړي او هغه بشپړوي،خپل مهارت پیاوړی کوي او راتلونکو نسلونو ته ئې سپاري،خلک ټول هغه مادي ارزښتونه تولیدوي چې ټولنه بې له هغه یوه ورځ هم ژوند نشي کولای، اولسونه په سیاسي ژوند کې هم وتلی رول لوبوي،د اولسونو گډون د ټولنې په تکامل او بدلون او همدا ډول په هر اجتماعي انقلاب کې حتمي دی،د هر انقلاب محرکه قوه خلک دي توپیر نلري چې کومې طبقې ته سیاسي واک په لاس ورځي،همدا ډول د ملي آزادی بخښونکو مبارزو او انقلابونو لښکرې له کارگرانو،بزگرانو او نورو زیارایستونکو څخه جوړوي.

او لسونه همدا ډول د کلتوري ارزښتونو په منځ ته راوړلو کې اساسي رول لري.ځکه پخوا تر هغه چې- په ادبیاتو او هنر کې پیاوړي کسان راپیدا شي هغه د فولکلور په شکل په افسانو،متلونو،شعرونو او نورو کې تکامل کاوه. په لنډ ډول ویلای شو چې مارکسیستي تیوري د یوې خوا په تاریخ کې د اولسونو قطقي رول ثابتوي خو په عین حال کې د وتلو کسانو،لارښوونکو او سازمان ورکونکو فعالیت ته ډیر اهمیت ورکوي. لارښونکي او قهرمانان د پیښو او جنبشونو راپیداکوونکي نه،بلکه د اولسونو او اجتماعي طبقو رهبران دي. د لارښوونکو د قوت سرچینه د خلکو پراخ اولسونه دي.لارښوونکي یوازې هغه وخت لوی تاریخي وظایف سرته رسولای شي چې د ټولنې د تکامل او طبقاتي مبارزې د قوانینو سره سم حرکت وکړي رهبران یوازې هغه وخت قهرمانان کیدای شي چې په ډیر شهامت،زړورتیا او هوښیاری د پراخو اولسونو گټې منعکسوي او د هغوی دفاع وکړي.

## د شخصیت لمانځنه (کیش شخصیت):

پوهیږو چې د تاریخي ماتریالیزم له مخې د تاریخ جوړونکي اولسونه دي نه وتلي کسان.نو د لارښوونکو

بیځایه ستاینه او د ټولنې په تکامل کې د هغوی رول ترخپلې اندازې ډیر ګڼل او تبلیغول د یوې خوا د مارکسیستي ایدیالوژی مخالف کار دی او له بلې خوا د پراخو اولسونو د روزلو په چاره کې خنډ اچوي.

د شخصیت لمانځنه خلکو ته دغه غلط نظر تلقینوي چې د لارښوونکو قابلیت دومره ډیر دی چې په ملیونهاوؤ زیارایستونکی باید پرهغه تکیه وکړي او په پټو سترګو په هغوی پسې ولاړ شي.د شخصیت نمانځنه پرخپلو ځانو او قوتونو د کارګرې طبقې او نورو زیارایستونکو اعتماد کموي او د ټولنې د تکامل په لار کې ستونزې راپیدا کوي.

اجتماعی شعور:

پوهیږو چې مادي شتمني د یوې ټولنې مادي ژوند جوړوي.اجتماعی شعور د همدې مادي شتمنی انعکاس دی.اجتماعی شعور پر دوو اګاهانه برخو او غیر اګاهانه برخو ویشل کیږي اګاهانه اړخ ئی ایدیولوژي او طبیعي علوم او غیر اګاهانه اړخ ئی سوسیال سایکولوژي(اجتماعی روح)یعنې رواجونه،دودونه،نظریات، اجتماعی احساسات او موډ په غیږ کې نیسي.اجتماعي شعور په بل عبارت د خلکو په ذهن کې د عیني نړۍ او اجتماعی شته منی انعکاس دی چې د دوی په عملي فعالیت کې صورت نیسي.اجتماعی شعور د سیاسي ایدیالوژی،قانوني مفهومونه،اخلاق،مذهب،ساینس،هنر او فلسفې په شکلونو کې څرګندیږي.د اجتماعی شعور بیل ډولونه د عیني نړۍ،طبیعت او ټولنې د بیلو اړخونو لخوا ټاکل کیږي.یعنې اجتماعی شعور د عیني واقعیت بیل بیل اړخونه منعکسوي مثلا سیاسي مفکورې د طبقو،ملتونو او دولتونو ترمنځ راوبط او علوم د طبیعت او ټولنې مشخص قوانین منعکسوي.نو د اجتماعی شعور هر شکل ځانته خپله موضوع لري.لنین د اجتماعی شعور په بلب داسې لیکي: (( فقط لکه د انسان علم چې طبیعت(وده کوونکې ماده)کوم چې له ده څخه په مستقل ډول موجود دی منعکسوي همدا ډول دانسان اجتماعی پوهه(د ده بیل فلسفي - مذهبي،سیاسي او داسې نور نظریات او دوکتورینونه د ټولنې اقتصادي سیستم منعکسوي)) .

(د لنین کلیات – ۱۹ټوک ۲۵پاڼه).

د اجتماعی شعور لومړۍ او غیراګاهانه مرحله اجتماعی سایکالوژي ده چې له درو برخو څخه جوړه ده.لومړۍ)نظریات او افکار دي چې د ټولنې او طبقې د ژوند د شرایطو څخه رازیږي او د پخوانیو نسلونو د نظریو له بقایاوو سره ګډیږي دغه اوسني او پخوانی نظریات او افکار د یوې ټاکلي طبقې – د خلکو سلوک تعینوي. دوهم)د خلکو احساسات،ارزوګانې او محسوسات دي چې د یوه مشخص ډول اجتماعی حالت او یوې ټاکلي طبقې یا اجتماعی ډلې په مقابل کې د یوې طبقې یا – اجتماعی قشر عمل او سلوک تعینوي.

دریم)د خلکو دودونه او عنعنات،خویونه او اداب دي چې د افکارو او محسوساتو مادي تجسم څرګندوي.په لنډ ډول ویلای شو چې اجتماعی روح یا روان چې د اجتماعی شعور لومړۍ مرحله ده مستقیماً له اجتماعی شته منی څخه منشاء اخلي او ځینې نور عوامل لکه کورني،ملي او کلتوري فکتورونه

پر هغه تاثیر کوي.اجتماعی روان یا اجتماعی سایکالوژي د اجتماعی شعور د لوړي مرحلې یعنې ایدیالوژی اساس دی.ایدیالوژي او اجتماعی سایکالوژي د خپل محتوی له مخې مطابقت سره لري خو ایدیالوژي د اجتماعی شعور پرمختللي مرحله ده.مثلاً اجتماعی سایکالوژي د اقتصادي،سیاسي،اخلاقي،ښکلاپیژندنه، مذهبي او نورو نظریو څخه تشکیل شویده چې یو له بله په پوره توګه نه وي سره جلا شوي او ایدیالوژي د اجتماعی شعور د ډیرې پرمختللي مرحلې په څیر په بیلو سیاسي او حقوقي نظریو،ښکلا پیژندنه،اخلاقي او فلسفي نظریو ویشل شویده.

ایدیالوژي په مستقیم ډول د اجتماعی سایکالوژی څخه منځته راځي د ایدیالوژی هر شکل د اساسي اجتماعی روابطو د منعکسولو پواسطه د پخوانیو تیوریګانو،نظریو څخه په مستقیم ډول منشاء اخلي. مثلا د پرولتاریا د سوسیالیستي ایدیالوژی مستقیمه منشاء د کارګرانو سایکالوژي نه وه کومې چې په خودبه خودي ډول د بورژوازی پر ضد مبارزه کوله بلکه هغه اجتماعی،اقتصادي،فلسفي تیوریګاني وي چې د اتلسمې پیړۍ په پای او د نولسمې پیړۍ په سر کې منځته راغلي وي.دغو تیوریګانو د بشریت د ذهني تکامل لوړه مرحله منعکسوله چې په بیلو هیوادو کې راپیدا شوي وه.مثلاً تخیلي سوسیالیزم په فرانسه،کلاسیکه مادي فلسفه په جرمني د سیاسي اقتصاد تیوري په انګلستان کې منځته راغلي وي چې وروسته مارکس او انګلز د هغوی په مرسته د پرولتاریا ایدیالوژي منځته راوړله.

### اجتماعي – اقتصادي فورمیشن(جوړښت):

اجتماعي – اقتصادي فورمیشن یا فارماسیون د تولیدي مناسباتو مجموعه ده چې ټاکلي تاریخي مرحلې د هغه پواسطه سره بیلیږي.اجتماعي اقتصادي جوړښت یو ژوندی اجتماعي پرمختلونکی اورګانیزم دی چې د خپلې شروع،انکشاف او په بل ښه متکامل اورګانیزم باندې د اوښتلو ټاکلي قوانین لري.
بشري ټولنه له ډیر پخوا څخه ترننی ورځې پورې له پنځو اجتماعي – اقتصادي فورمیشنونو لکه لومړۍ اشتراکي ژوند،مرئیتوب،فیوډالیزم،سرمایداری او سوسیالیزم څخه تیر شویدي.

د اجتماعي-اقتصادي فورمیشن کشف له یوه طرفه د اجتماعي پیچلو پیښو علمي تحلیل ممکن کړل او د بیلو هیوادونو مشترکې خیرې ئی چې په عین اجتماعي-اقتصادي فورمیشن کې واقع دي وښودلې او له بلې خوا ئی هغه سوسیولوژیکي قوانین چې په بیلو فورمیشنونو کې مشترک وو بیان کړل او هم ئی د بیلو فورمیشنونو خاص قوانین کشف کړل.مثلاً د عمومي قوانینو له جملې څخه: د تولیدي قوتونو او تولیدي مناسباتو د وحدت قانون،د تولیدي راوبطو او تولیدي قوتونو د تطابق قانون،د طبقاتي مبارزې قانون(چې د مرئیتوب،فیوډالي او سرمایداري نظامونو په دننه کې عمل کوي)،د زیربنا او روبنا د روابطو قانون او نور دي.دغه عمومي سوسیولوجیکي قوانین په بیلو فورماسیونو کې په مشخص ډول څرګندیږي خصوصي قوانین هغه دي چې یوازې د یوه فورماسیون په حدودو کې عمل کوي.د یوه ټاکلي فورماسیون خصلتونه -

په لاندې ډول دي :

۱- ټاکلی تولیدي طرز د هر اجتماعي-اقتصادي فارماسیون بنسټ تشکیلوي.

۲- هر اجتماعي-اقتصادي فورمیشن د کار خپله اجتماعي سازمان او په متضادو ټولنو کې خپل ټاکلي طبقې،د استثمار ډول او د طبقاتي مبارزې شکلونه لري.

۳- هر اجتماعي-اقتصادي فورماسیون خپله مشخصه روبنا یعنې سیاسي، قضائي، اخلاقي، فلسفي، زیباشناسي،مذهبي او نور نظریات،خپل خاص سازمانونه او موسسې او بیل ایدیالوژیکي راوبط لري.

۴- د اجتماعي ژوند نورې موسسې او پدیدې لکه کورنۍ،د ورځني ژوند شرایط،ساینس او کلتور او ملي روابط د مسلط اقتصادي ساختمان سره ځان برابروي د پورتني عمومي او خصوصي قوانینو پر بنسټ په بشري تاریخ کې پنځه ډوله اجتماعي-اقتصادي فورماسیونونه منځته راغلي دي چې په لنډ ډول ئی وړاندې کوو:

## لومړۍ کمون(لومړنی ګډ ژوند) :

کله چې انسان د کار پواسطه د حیواني بیژو څخه په کیفي توګه بیل شو نو په اجتماعي یا ټولنیز ژوند ئی پیل وکړ.لومړنی کمون د تاریخي پلوه د ټولنې لومړۍ اجتماعي شکل دی.

پدې وخت کې د کار وسایل ډیر ساده او ابتدائی وو.مثلاً کوتک،د ډبرې تبرګی،ډبرین سرلرونکي نیزه،اورټک او نور چې په پاي کې غشی او لیندی جوړ کړل شول.د ژوند ضروري شیان ئی د ښکار او طبیعي میوو څخه په لاس وروړل او ډیر وروسته د یوم په مرسته کښت پیل شو.پدې دوره کې محرکه قوه یوازې د انسان د غړو قوه وه.تولیدي مناسبات د ټولنې د تولیدي قواوو سره سم وو.انسانانو د کار د هغو وسایلو په مرسته چې د ټولنې په واک کې وو نشو کولای چې په ځانګړي توګه د طبیعي قواوو سره مبارزه وکړي او یا د ژوند-څوری برابر کاندي.یوازې د ګډ کار،ګډ ښکار او ګډې کب نیونې له لارې ممکنه وه چې غذائی مواد او د اغوستلو دپاره د حیوان پوستکی لاس ته وروړي .

ګډ کار د تولیدي وسایلو د ګډ مالکیت موجب ګرځیده،د ټولنې ټولو غړو د تولید د وسایلو سره یوشان مناسبات لرل،چا نشو کولای نور د تولید دوسایلو د مالکیت څخه محروم او هغه پخپل خصوصي مالکیت کې راولي.څرنګه چې د تولید د وسایلو خصوصي مالکیت نه وو نو د یوه انسان لخوا د بل انسان استثمار هم نه وو.ځکه چې د تولید سطحه دومره کښته وه چې د ټولنې د غړو نسونه ئی هم نشو مړولای. اضافه تولید هیڅ ممکن نه وو او چا نشو کولای د تولید یوه برخه د ځان لپاره وساتي.

څرنګه چې دیوه انسان لخوا دبل انسان استثمارولو د قهر یوې مخصوصي دستګاه یعنې دولت ته هم ضرورت نه وو،کارونه په ټولنیزه توګه او یا د ټولنې د تجربه کاره غړو لخوا په ډیر ساده ډول تنظیمیدل.

دلومړي کمون مشخصه څیره د کښته تولید او د طبیعي قواؤ په وړاندې د انسان کمزوری ټاکله د -

طبیعت په مقابل کې د انسان دغه کمزوري په ډیرو ساده مذهبي عقیدو کې انعکاس پیدا کاوه.څرنګه چې انسان په پوره توګه پر ټولنه متکي او د هغې تابع وو نو قومي او قبیلوي دودونه او رواجونه ئی په پټو سترګو پرځای کول متقابل مرسته د یوه قوم او قبیلې ترمنځ عملي کیدله او د بیلو قومونو او قبیلو ترمنځ کله کله خونړی جګړې کیدلې.

که څه هم لومړی کموني ټولنه د استثماره فارغه وه خو د انسان لپاره یوه طلائی دوره نه وه.د زمانې په تیریدو سره انسان د فلزاتو ویلي کول زده کړل،د ډبرې او لرګیو وسایل ئی په فلزي وسایلو واړول،فلزي څوکه لرونکی یوغ،فلزي تبرګی د ژړو یا اوسپنې څوکې لرونکي نیزه او غشي پراخ استعمال وموند،زراعت وده وکړه کورني حیوانات تربیه شول او حیواني قوه د کښت لپاره پکار واچول شوه.

د تولید د وسایلو ودې او د انسان د مهارت د پیاوړي کیدو ژور اجتماعي بدلونونه منځته راوړل،د کار اجتماعي ویش راپیدا شو،کرهنه له مالداری څخه جلا او وروسته لاسي صنعت وده وکړه،د شیانو مبادلې لومړی د قبیلو او وروسته د یوې قبیلي د غړو ترمنځ رواج وموند،قومونه او قبیلې پربیلو کورنیو وویشل شوې چې هرې کورنی مستقل اقتصادي واحد تشکیلاوه.

په همدې وخت کې وو چې خصوصي مالکیت راپیدا شو ځکه چې د تولید سطحه لوړه شوه،تولیدو-نکو وکولای شوای د ځان تر ضرورت څخه ډیر ابتدائی اضافه تولید وکړي.نو ځینو انسانانو ته دا امکانات په لاس ورغله چې هغه اضافه تولید د ځان لپاره او طبیعي افتونو په مقابل کې ذخیره کړي.

انسان بې لدې چې په شعوري توګه پوه شي د تولید د وسایلو د بدلون سره ئی د یوه ژور اجتماعي انقلاب لاره هواروله.په نتیجه کې لومړی ګډ سیستم په مرئیتوب واوښت ځکه چې  تولیدي قواوو نوي تولیدي مناسبات غوښتل.

د مرئیتوب سیستم:

د دې سیستم بنسټ د مرئی لرونکو لخوا د تولید د وسایلو او پخپله د تولیدونکو یعنې مریانو د مالکیت حق وؤ چې په نتیجه کې استثمارونکي طبقه یعنې باداران او استثماریدونکي طبقه یعنې مریان منځ ته راغلل.د مرئیتوب سیستم د همهغې ټاکلي تاریخي مرحلې د تولیدي قواؤ د ودې نتیجه وه.تولیدي قواو له یوې خوا دومره وده کړي وه چې د تولیدونکو استثمار ممکن کړي او د بله پلوه د تولید سطحه دومره کښته وه چې د زیاړایستونکو استثمار یعنې د تولیدونکو څخه د تولید د یوې برخې اخیستل یوازې هغه وخت ممکن وو چې د مریانو مصرف بیخي کم کړل شوی وای.

مریانو به وړی نس د ګردې ټولنې لپاره تولید کاوه چې دې کار په هغو کې د مخالفت عکس العمل راوپاراوه.د مریانو د دغه قهر او سرکښی د ځپلو دپاره یوه مخصوصه د قهر دستګاه(دولت)لازمه وه.د دولت وظیفه دا وه چې د مرئي لرونکو مالکیت وساتي او د کار لپاره د جنګ له بندیانو یا د ټولنې د نورو غړو

څخه مريان برابر کړي.د دولت د راپيدا کيدو سره قانون او قضائي معيارونه منځته راغلل چې د بادارانو اراده ئی بيانوله.قانون د دولت د قهريه قوې لخوا عملي کيده.

نوي رواجونه او دودونه او د مرئيتوب د مرحلې ټاکلي ايډيالوژي راپيدا شوه جسمي کار د کرکې او نفرت وړ شئ ګڼل کيده چې د آزاده انسان لپاره وړ نه ؤ د لومړي کمون د يووالي او مرستې اړيکې په دښمنی، نابرابری،ظلم او استثمار واوښتې.لاکن د مرئيتوب سيستم د بشري ټولنې د پرمختګ په لاره کې يو مهم ګام وو،د کرهڼې او صنعت همدا ډول د لاسي صنعت د بيلو څانګو ترمنځ بيلتون نور هم زيات شو،په کرهڼه کې نوي څانګو انکشاف وموند،د غلودانو د کرهڼې ترڅنګ د سابو او ميوو کرهڼه راوزيږيده،د کار ابزار لکه لور،فلزي الات او نور کشف شول،د انسان د عضلي قوې سره يو ځای د حيواني قوې څخه استفاده کول پراخ شول،ويالې،بندونه،سړکونه،بحري جهازونه،لوی تعميرونه او نور منځته راغلل.

څرنګه چې د ټولنې يوې برخې د جسمي کارونو څخه آزادي وموندله نو د ساينس او هنر د راپيدا کيدو زمينه ئی مساعده کړه.د زمانې په تيريدو سره د مرئيتوب د سيستم د نور پرمختګ امکانات پای ته ورسيدل او زاړه توليدي مناسباتو د پرمختلونکو توليدي قواؤ مخه ونيوله.ځکه د يوې خوا بادارانو د مريانو د ارزان کار د لرلو له کبله د کار د وسايلو د پياوړي کولو هڅه نه کوله او له بله پلوه مريانو د توليد او د هغه د وسايلو د تکامل سره علاقه نه لرله،نو د توليدي قواؤ ودې د نوي توليدي مناسباتو ضرورت او د زړو روابطو لغوه کول حتمي وګرځول.

دغه چاره يوازې د يوه اجتماعي انقلاب پواسطه ترسره کيدلی شوای،د دې انقلاب محرکه قوه ټول مريان او د آزادو خلکو خپره برخه وه.کله چې طبقاتي تضادونه نور هم زيات شول نو د آزادی لپاره مبارزې د ابزارو له ماتولو څخه د زرهاوو مريانو تر قيامه پورې،بيل بيل شکلونه واخستل،لوی مرئی لرونکي امپرا-طوری ونړول شوې او د فيوډاليزم دپاره لاره پرانستل شوه.

فيوډاليزم :

د فيوډالي ټولنې د توليدي روابطو بنسټ د فيوډال لخوا د توليد د وسايلو او تر ټولو لومړی د ځمکې مالکيت جوړوي.د فيوډاليزم کلمه له فيودم څخه ريښه اخلي چې يوه لاتيني کلمه ده او هغې ځمکې ته ئی ويل چې د پادشاه لخوا په د ده واسال ته ورکول کيدله.بزګر چې سرف بلل کيده په شخصي لحاظ په فيوډال پورې اړه لرله خو د ده خصوصي مالکيت نه ؤ.مالک پر بزګر د کار حق درلود او بزګر مجبور وو چې هغه ته کار وکړي په ځينو ځايونو کې بيا داسې بزګران او کسبکاران موجود وو چې خپله يوه ټوټه ځمکه به ئی لرله.دا ځمکه به ئی و فيوډال ته تر کار وروسته کرله او حاصل به ئی د ځان لپاره اخستی.

د فيوډالي ټولنې عمده طبقې فيوډالان او سرفان وؤ چې نه پخلاکيدونکي تضادونه ئی سره لرل،نورې فرعي طبقې او قشرونه هم موجودې وي مثلاً د تيرې تاريخي مرحلې بقايا لکه باداران او مريان او د نوي -

تاریخي مرحلې طبقې لکه کسبکاران،کارګران او سرمایداران.

دعمده طبقو ترمنځ تضادونه نه پخلاکیدونکي وو د استثمار شدت د مرئیتوب تر مرحلې یوڅه لږ وو خو بزګران بیا هم تر ډیر ظلم لاندې وو،د بزګرانو استثمار بیا هم پر غیر اقتصادي قمر تکیه ؤ،د کار عمده محرک د جزا او وهلو ټکولو بیره او د فیوډال لخوا د بزګرانو د ټول شخصي مالکیت مصادره کیدل وؤ.

د فیوډالیزم په دوران کې ډیر مهم کشفیات وشول چې د بشري تاریخ پر ټول جریان ئی ستر تاثیر درلود. انسان د امومې اوسپنې څخه د اوسپنې استخراج زده کړ،د لویو بحرې لارو وهلو لپاره ئی بادبان لرونکي جهازونه جوړ کړل،ټیلیسکوپ،باروت،کتاب چاپول،میخانیکي ساعت او نور کشف شول،دانسان اوحیوان د عضلي قوت سربیره د اوبو او باد له قوې څخه ګټه اخستل پیل شول،کرهنې ډیر پرمختګ وکړ،درې فصله کښت رواج وموند،د سرې استعمال پیل شو،ستر ښارونه چې د سیاست،اقتصاد او کلتور مرکزونه شول منځته راغلل،د پادشاهانو،فیوډالانو او اشرافو لپاره ډیر تجملي شیان جوړیدل.

د فیوډالي ټولنې سیاسي او ایدیولوژیکي روبنا د همهغې دورې د استثمار به شکل او طبقاتي مبارزه کې انعکاس موندلی وو،اجتماعي او اقتصادي نابرابری قانوني شکل درلود،اجتماعي طبقو بیل بیل استیټونه جوړول،فیوډالي ټولنه د اشرافو،روحانیونو،تجارانو او بزګرانو پر بیلو استیټو ویشل کیدله،د یوه استیټ په دننه کې د بیلو قشرونو او د بیلو بیلو استیټونو ترمنځ روابط په کلکه مراعات کیدل،د دې روابطو بنسټ پر شخصي تابعیت ولاړ ؤ،د یوه استیټ څخه و بل ته تګ امکان نه درلود.د فیوډالي ټولنې معنوي ژوند د کلیسا او مذهب لخوا اداره کیدی دا مرحله د بشر په تاریخ کې د مذهب د اوج مرحله وه.

فیوډالي مرکزي دولت او محلي فیوډالانو د سرفانو د استثمار او د هغوی د مقاومت د ځپلو لپاره وسله والې قواوې لرلې،د فیوډالانو پرضد د بزګرانو مبارزه هم ډیره پراخه وه او ځینې وخت ئی لوی هیوادونه په-غیږ کې نیول.د زمانې په تیریدو سره د تولیدي قواؤ وده د تولیدي مناسباتو سره په تضاد کې راغله،په ښارونو کې لویې کارخانې منځ ته راغلي وې چې د لاسي صنعت په مرسته ئی تولید کاوه،سرمایدارانو د پادشاهانو په مرسته لویې مستعمرې لاس ته ورورې چې خپل تجارتي مالونه ئی پکې خرڅول،د مالونو مبادلې په خپل وار د تولید سطحه لوړه بوتله.

بزګرانو د دې لپاره چې د خپل کار محصول ټول پخپله مصرف او ځانونه آزاد کړي د فیوډالانو پر ضد ئی په سخته مبارزه لاس پورې کړی ؤ،ځوانې بورژوازی هم د دوی د آزادۍ سره علاقه لرله ځکه چې د دوی لویو کارخانو کارګرانو ته ضرورت درلود چې له یوې خوا د فیوډال د شخصي تسلط څخه آزاد وي او د بله پلوه خصوصي مالکیت ونلري.

بورژوازی د فیوډالي مالیو او نورو بندیزونو څخه آزادي غوښتله،د خپلو مالونو د خرڅلاو دپاره ئی ملي بازار ته ضرورت درلود هغوی پرځمکه باندې دفیوډالي مالکیت لغوه کیدل غوښتل،په لنډ ډول دبورژوازی هدف دا وو چې د ټولنې چارې په لاس کې ونیسي.

بورژوازی ټول بزګران،کسبکاران،مترقي پوهان او نور ټول د فیوډالیزم او کلیسا پر ضد د مبارزې لپاره پر ځان راټول کړل او د بورژوازي انقلابونو مرحله پیل شوه.

### کاپیټالیزم ( پانګوالي یا سرمایداري سیستم ) :

د سرمایداري سیستم تولیدي مناسبات د پانګوالانو لخوا د تولید د وسایلو د خصوصي مالکیت پر بنسټ ولاړ دی.د کاپیټالیزم تولیدي روابطو د تولیدي قواؤ د ودې لپاره پراخ امکانات برابر کړل.لویې ماشیني کارخانې منځته راغلې چې د ساینس په مرسته ئی د طبیعي قواؤ لکه بخار او برق څخه په استفاده تولید کاوه،د کار اجتماعي ویش نه یوازې د یوه هیواد په دننه کې بلکه د بیلو هیوادو ترمنځ نور هم ژور شو، جهاني بازار او جهاني اقتصادي سیستم ئی منځته راوستل.

د تولیدي مناسباتو له بدلونه سره په سیاسي،اجتماعي او نورو ساحو کې بدلون منځته راغلو،پانګوالان د خپلو کارخانو لپاره داسې مزداخستونکو کارګرانو ته ضرورت لري چې د یوې خوا د فیوډالانو د شخصي تسلط څخه خلاص وي او له بله پلوه د تولید وسایل ونلري څو مجبوره شي چې خپله د کار قوه وپلورې.

د کاپیټالیستي نړۍ دوه عمده طبقې کارګران او سرمایداران دي،د سرمایه دار او کارګر ترمنځ مناسبات د استثمار پر بنسټ تکیه لري او تضادونه ئی نه پخلاکیدونکي دي،نو ځکه د یوې شدیدې طبقاتي مبارزې روابط دي،داستثمار طبقې دپخوانیو اجتماعي-اقتصادي فورمیشنونو سره یو څه توپیر لري،سرمایه داران جسمي قواوو او جزاګانو ته ضرورت نلري چې کارګر وکار کولو ته مجبوره کړي ځکه کارګر د کار وسایل نلري او د لوږې څخه د مرګ له ویرې په،رضاکارانه توګه کار ته حاضروي.نو د دې نوي بادار لخوا د مزدور آزاد چیره کول(استخدامول)او دکارګرانو لخوا د کار د قوې په خپله خوښه پلورل د استثمار ملي ځیر پټوي.

داستثمار د طریقې له بدلون سره د ټولنې په سیاسي ژوند کې هم بدلون راپیدا کیږي،پخواني استبدادي او میراثي پادشاهی په پارلماني جمهوری یا لږ ترلږه په مشروطه پادشاهی بدلیږي،بورژوازي دموکراسي ټینګیږي او خلک د قانون په وړاندې مساوي اعلانیږي.د سرمایداري او فیوډالي سیستم ترمنځ د سیاسي او ایدیالوژیکي روبنا دغه ټول بدلونونه د روبنا ماهیت نه بدلوي ځکه چې بیا هم پر خصوصي مالکیت او استثمار تکیه لري.د دې روبنا مهمه برخه د حاکمه طبقې د ګټو ساتل دي.

د تیوری او عمل له مخې ثابته شویده چې سرمایداري سیستم هم موقتي او انتقالي خاصیت لري،کله چې د خصوصي مالکیت او اجتماعي تولید ترمنځ تضادونه پخیدو ته ورسیدل نو شدت ئی وموند د دې تضادونو حل یوازې د تولیدي وسایلو د اجتماعي کولو او سوسیالیزم له لارې ممکن وو.

څرګنده ده چې د یوه تولیدي طرز بدلون به بل او مترقي تولیدي طرز د یوه اجتماعي انقلاب له لارې صورت نیسي،د هر اجتماعي انقلاب لپاره یوه محرکه قوه لازمه ده چې انقلاب بریالی کړي،د سوسیالیستي انقلاب محرکه قوه کارګره طبقه ده چې دسرمایدارانو لخوا منځته راغلي ده،کارګره طبقه ټول زیارایستو –

نکي د سوسیالیستي انقلاب لپاره راټولوي.انقلابي طبقې په ګډه انقلاب بریالی کوي،نوی سیستم سوسیالیستي سیستم ټینګول چې په هغه کې د یوه انسان لخوا د بل انسان استثمار بیخي له منځه ځي.

سوسیالیزم :

د سوسیالیستي ټولنې تولیدي طرز د اجتماعي مالکیت پربنسټ ولاړ دی.په سوسیالیستي ټولنه کې د یوه انسان لخوا د بل انسان استثمار او دښمنې طبقې نشته،سوسیالیزم د کمونیزم لومړی مرحله ده،د سوسیالیستي ټولنې شعار دا دی چې((د هر چا څخه د توان په اندازه او هر چا ته د کار په اندازه))خو د کمونیزم شعار بیا دادی چې((د هر چا څخه د توان په اندازه او هر چا ته د احتیاج په اندازه)).

سوسیالیزم د لومړي کمون سره ظاهري ورته والی لري ځکه په دواړو کې د تولیدي وسایلو مالکیت اجتماعي دی او په دواړو کې استثمار او دښمنې طبقې نشته،خو دا دوه ټولنې کیفي توپیرونه سره لري ځکه په سوسیالیستي ټولنه کې د اجتماعي مالکیت موجودیت او د استثمار نشتوالی د تولیدي قواؤ د ودې او پر طبیعت باندې د تسلط له لارې منځته راځي پداسې حال کې چې په لومړي کمون کې تولیدي قواوې دومره کمزوري دي چې د هغوی خصوصي مالکیت او د یوه انسان لخوا د بل انسان استثمار امکان نه درلود.

پوهېږو چې فیوډالي تولیدي مناسبات د مرئیتوب د سیستم په پاي کې منځ ته راغلل او همدا ډول د کاپیټالیزم د تولید مناسباتو د فیوډالي ټولنې په نس کې نطفه ونیوله خو سوسیالیستي تولیدي مناسبات چې پر اجتماعي مالکیت تکیه لري په سرمایداري ټولنه کې نه راپیدا کیږي او د سوسیالیستي انقلاب تر بریالي کیدو وروسته ټینګیږي.

سوسیالیستي انقلاب له ټولو پخوانیو انقلابونو سره ډیر کیفي توپیرونه لري.لومړی دا چې پخوا تر هغه به د انقلاب له لارې یوه استثمارونکي طبقه له منځه تلله خو بلې استثمارونکي طبقې به ئی ځای نیوه، لاکن د سوسیالیستي انقلاب له لارې استثمارونکي طبقې،استثمار او دښمنې طبقې بیخي له منځه ځي او ځای ئی متقابله مرسته او د وروږګلوی مناسبات نیسي.دوهم دا چې په نورو انقلابونو کې د زیارایستونکو عمل اګاهانه او د پوهې له مخې نه ؤ مثلاً د فیوډالي ټولنې په پای کې کارګرانو او بزګرانو یوازې د فیوډالانو د تسلط څخه د ځان د آزادی لپاره مبارزه کوله او نه پوهیدل چې د دوی د مبارزې په نتیجه کې به د سرمایداري سیستم استثمار منځ ته راشي،لاکن کارګران او نور زیارایستونکي په اګاهانه توګه د سرمایداري سیستم د راپرزولو او د اجتماعي مالکیت د استقرار او سوسیالیزم دپاره مبارزه کوي.

کارګره طبقه د سوسیالیستي انقلاب د بریالیتوب سره د بورژوازي طبقې مالکیتونه اجتماعي کوي، سرمایداران چې سیاسي واک ئی له لاسه ورکړیدی خو بیخي له منځه ندي تللي خپل مقاومت څو واره سختوي او غواړي خپل واک لاسته وروړي او خصوصي مالکیت او استثمار بیا راژوندی کړي،کارګران د ټولنې د ستر اکثریت د ګټو د ساتلو لپاره مجبوره دي چې د ضد انقلاب دغه مقاومت خنثی کړي.نو د -

سوسیالیستي دولت تیپ ځکه د پرولتاریا دیکتاتوري ده.د پرولتاریا دیکتاتوري دوه عمده وظیفې لري،یوه ئی قهریه وظیفه ده چې د پخوانیو استثمارونکو طبقو مقاومت خنثی کوي،ضد انقلاب ځپي او د کارګرانو سیاسي واک ټینګوي،دوهمه ئی تعمیري وظیفه یعنې د هیواد صنعتي کول،د کرهڼې ټولنیز کول،د کلتوري انقلاب عملي کول او د کمونستي ټولنې دپاره د مادي شرایطو برابرول دي.

( پای )

- د نړۍ کارګرانو سره یو شئ -